مورچل

د ګوډاګۍ اداري

د عسکرو زیاتیدونکې مرګ ژوبله.....

لسم کال لسمه، پرلپسې ۹۸یمه ګڼه،
محرم الحرام۱۴۳۸هق، اکتوبر۲۰۱۶م

افغانستان کې د امریکایي جنرالانو څرګنده ناکامي!!

دوستم په شرمونو وشرمېد!

جنرال دوستم؛ بازیچه دست وحدت ملی!

دنوي قائد ترقیادت لاندې سترفتوحات او...

طالبان دوستم را به زانو درآوردند!

د مظلوم ښېرا وهلی !!

د ابوذر(الغفاري) رضی الله عنه وفات

د اختلاف شرعي ضوابط او آداب

دقرآن کریم روغتیایي اعجاز!!

سلطان عبد الحمید الثاني

یا دعثماني خلافت ځلانده ستوري!

د بابوس اتل شهید

مولوي امرالله رهبر ژوند لیک ته لنډه کتنه!

مورچل



لسم کال لسمه، پرلپسي ۹۸ يـمه ګڼه، محرم ۱۴۳۷هق اکتوبر ۲۰۱۶م

لړليک

علمي، سياسي او جهادي مياشتينی خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	افغانستان کې د امريکايي جنرالانو څرګنده ناکامي!!	۳
۳	دوستم په شرمونو وشرمېد.....	۶
۴	دنوي قائد ترقيادت لاندې سترفتوحات او.....	۹
۵	جنرال دوستم؛ بازيچه دست وحدت ملی!.....	۱۲
۶	د اسلام غزوات او سرايا.....	۱۴
۷	دجهاد فقهي مسائل.....	۱۷
۸	طالبان دوستم را به زانو درآوردند.....	۲۰
۹	ددينې عالم او دهلاکو خان دلور سوال او ځواب.....	۲۲
۱۰	د اختلاف شرعی ضوابط.....	۲۳
۱۱	جنګي جنايتونه (اکتوبر).....	۲۹
۱۲	سلطان عبدالحميد الثاني يا د عثماني خلافت.....	۳۲
۱۳	شهيدې قافلې.....	۳۳
۱۴	هغه سړی چې الله تعالی په ماشي عذاب ورکړ!.....	۳۵
۱۵	ابوذر غفاري رضي الله عنه.....	۳۷
۱۶	چرا اين همه مردم با هم اينگونه اختلافات.....	۳۸
۱۷	دعبرتونو پر لور دمظلوم شهرا وهلی!!.....	۴۰
۱۸	دقرآن کريم روغتيايي اعجاز!!.....	۴۲
۱۹	دمورچل ويړې.....	۴۳
۲۰	د اکتوبر دمياشتې جهادي خبرونه.....	۴۵

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل	ايـــوب صـــافی
حـــسن زوی	حکمت بغلانی
زبير مـــسافر	حافـظ سعـــيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

دګوډاګۍ اداري د عسکرو زیاتیدونکي مرګ ژوبله،

د کابل د چارواکیو د ناکامۍ او کمزورۍ بل ثبوت !!

له اوږدې چوپتیا څخه وروسته بالاخره اشغالګرو امریکایانوومنله ، چې روان (۲۰۱٦ز)کال داسلامي امارت دمجاهدینو سره په جګړوکې دکابل دغلامې اداري دعسکرو مرګ ژوبله له تیرکال څخه ۹٪ نهه سلنه زیاته شوي ، د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکا پلټونکي ډلې "سیګار" پخپل تازه رپوټ کې ویلي،چې د تېر کال په پرتله سږ کال د(۵۵۲۳)سرتېرو په وژل کېدو، د افغان عسکرو د مرګ ژوبلې کچه ۹ سلنه ډېره شوې ده .

د سیګار مشر- د امریکا مشرانو جرګې ته د خپل دریم درې میاشتنې راپور په اړه لیکلي،چې د روان(۲۰۱٦)کال له پیله د تېرې اګسټ میاشتې تر (۱۹)نیټې پورې د افغانستان جګړه کې(۵۵۲۳)کسه افغان سرتېري وژل شوي او(۹٦٦۵)نور ټپیان شوي ،دسیګار راپور کې راغلې چې : سږ کال تر سپټمبر میاشتې پورې د ګوډاګیو عسکرو پر سمبالښت، پیاوړتیا او روزنې(۵۹,۸)میلیارده ډالر (۴۰,۲ میلیارد ډالر پر پوځ او ۱۹,٦ میلیارده نور پر پولیسو) لګولي دي دنړیوالو رسنیو دراپورونو له مخې .یوه اوونۍ وړاندې په افغانستان کې د امریکایي عسکرو او ناټو عمومي قومندان (جنرال جان نیکلسن) خبرداری ورکړ ،چې د افغان عسکرو مشرتابه کې "ناکامي او کمزورتیا" د وسله والو عسکرو د مرګ ژوبلې ډېرېدو لامل ګرځېدلی .جنرال جان نیکولسن وایي :د تلفاتو یو بنسټیز لامل د چارواکو ناسم مدیریت ته راجع کیږي، دغه ستونزه په لومړي قدم کې په پولیسو او بیا په ملي اردو کې زیاته ده)

یوې خواته جګړه کې دمقابل لورې دتلفاتوشمیر زرګونوته رسیږي، خو بلې خوا ته داسلامي امارت دمجاهدینودتلفاتوشیمر ددې سربیره چې فدایي بریدونه هم کوي ،پخپله ځان پورې باروت تړي او ټانکونو اوزرغروالو وسایطوسره ځانونه جنګوي اواستشهادي حمله کوي، خو بیا یې هم شمیرهیڅکله له سلګونوڅخه هم ندی لوړ شوی ،چې دا په ځرګنده ددې خبرې توکیداوتوثیق کوي ،چې دغلامې اداري

دعسکرو مورال لویدلی ،دقوماندې دګډوډۍ ښکاردي،دجنګ ځواک يې له لاسه ورکړی اونور به يې د(بروکسل او واشنګټن)دکوربه وو بي خرته ډالراوپرمختللې وسلې دماتې مخه نه شي نیولای! .

لکه چې پخپله امریکایي جنرالانو هم ومنله، چې دکابل دمزدورې اداري ناسم مدیریت!! دمشرتابه ناکامي او ضعف !! دعسکرو دبي کچې مرینې اوتلفاتولامل دی .....او څومره چې دحالاتونه برداشت کوو نوددې امکان ورځ تربلې ډیریږي ، چې پایله کې به دکابل دګډوله اداري پاتې غلام عسکرمتلاشي اوموجوده تشکیلات به يې چورلټ منحل شي، پداسې ظروفوکې ولي امریکایان پداسې بي شعوره تش په نامه پوځ او پولیسو دومره لوړلګښتونه کوي ؟ ولي يې ورسره دهیواد برخلیک ترلی او ولي يې په يوه ښه بدیل غور نه کوي !

،پداسې حال کې چې داسلامي امارت مجاهدین نه میاشتینی معاش ، نه کوم ډول مادي امتیازات اونه پرمختللې وسلې لري ،یوازې دمعنویانولپاره فداکاری او دسرونو نذرانې وړاندې کوي ،موخه يې په ګران هیوادکې داسلامي شریعت نفاذ،دهیواد خپلواکي اودنیواکګرو شړل دي، چې دداشانې مقدسو اهدافو له امله يې دافغان مسلمان ولس باورخپل کړی اودخپل صف ذات البیني وحدت او پیاوړتیايې تضمین کړي ده ، دې ډول ارزښتونوته په کتومعقوله داده ،چې امریکایان او لویدیځوال دکابل داوسنی اداري او مورال بایللیوعسکرو پرځای په داسې لارو چارو فکر وکړي اوداسې یوه معقوله طرحه جوړه کړي، چې هم افغان مجاهد ولس ته دمنلو وړ وي او هم ددوئ دابرومانده وتلو تضمین ورکړي ،غربیان چې له یوې نیمې لسیزې جګړې وروسته يې دمجاهدینو په وړاندې کومه بارزه لاسته راوړنه نده لرلې، ددې نه پس هم داسې څرک نه لګي ،چې ددوئ سوبه باوري کړي اودوئ ته دبري کوم ډول چانس ورکړي ،دکتونکیوله نظره امریکایانوته سودمنه داده ،چې څومره ژر کیدای شي، ددې هیواده دې پښې سپکې کړي او افغان ولس دې پریږدي، چې دخپل برخلیک په باب له سره فکر وکړي .

زمونږ باور دادی ،چې وروستۍ فتحه به انشاء الله تعالی چې دمجاهدینو وي اواشغالګربهرنیان که هرڅومره زمونږ هیواد کې نورهم اشغال ته ادامه ورکړي ،بالاخره به دشرمیدلې ماتې او رسوایې سره مخ کیږي اودخپلو غلامو افغان نماعسکرو غوندې به يې تلفات له زرګونوو اوړي ،په تیرو پنځلسویرغلیزوکلنو کې چې نیواکګرو دکابل د چارواکیو واکمني مصؤن نه کړای شوه، ددې نه وروسته داسې کومې نښې نښانې نه لیدل کیږي، چې دوئ دې هدف ته ورسیږي او په خپلو ګوتو رغول شوي اداره دې دتل لپاره په واک کې وساتي ، بلکې دهرې ورځې په تیریدو به يې دسراو مال زیان ډیریږي اودمجاهدینو په وړاندې به سلامي کیږي !

(هڅاند)

افغانستان کې

د امریکایي جنرالانو څرګنده ناکامي !!

لـــه هغـــې نـــه وروســـته چـــې دامریکاپـــه مشرۍ لویدیځوالودافغانستان پراسلامي حریم نابیره تیری وکړاوددې هیـواد اسـلامي هویـت او مـلي خپلـواکي یـې وننګولـه ،دتیـرو پنځلسو کلونو په امتداد کې یې پوځي ځـواک اوبـه ،اواوس یـې د(۲۰۰۱ز)کـال پـه شـان نړیـوال بـرم اوهغـه دبدبـه نـده پـاتي ،داسلامي امارت مجاهدینو اوافغان مسـلمان ولـس ورتـه دسر پـه کاسـه کـې اوبـه ورکـړي اوپـه خپلـو فـدایي ګوزارونـو یـې ددې ښـکیلاک دغـرور څلـې پـر ځمکـه رانسـکور اودتـل لپـاره یـې داسلامي امت ایلو هیواد ونوته دخپلواکۍ روحیه وروبخښله .

امریکایي پوځي جنرالانـو هیـواد کـې دمجاهـدینوخلاف لـه هر ډول تکتیک او دسیسې نـه کـار واخیسـت او هـره تجربـه یـې تکرار کړه ،خو دحالاتوله جایزې نه چـې څـومره معلـومیږي ،ټـول پلانونه یې یو پر بل پسې ناکـام شـول او د(نیوزویـک مجلـې) پـه وینا چې دې وروستیو کې یې د افغانستان پـه اړه پـه مقالـه کـې لیکي :چې پر امریکا د سپټمبر د ۱۱مې تر حملې پنځلس کاله وروسته، افغانستان لا هم پر څلور لارې ولاړ دی.

د مجلې په لیکنه، د امریکا د څه باندې سل میلیاردو ډالـرو له لګښـدو سره پـه افغانسـتان کـې پرمختګونـه کمـزوری دی او دا هیواد لا هم له سیاسي، اقتصادي او امنیتـي پلـوه لازم ثبـات نـه لري.

مجلـه لیکـي : افغانسـتان کې له څو کلونو پـوځي ماموریـت او د زیاتو عسکرو له قرباني کېـدو سره هـم طالبـانو ریښـې پراخـې کړې، حملې کوي، زیات افغانـان بې ځایه شوي او بهرنیو هیوادونـو ته تښتي.

د نیوزویک په لیکنه، داسې اندیښنې شته ،چې ښایي د نـاټو په مشرۍ د غوڅ ملاتړ ماموریـت ۱۵ زره عســکر د دې هیـــواد د امنیت لپاره کافي نه وي.....

د(نیوزویـک) لـدې تجزیـې څخه چې څومره حقایق پـه نظـر راځـــي ،هغـــه دادي : چـــې دامریکایانو ماموریت اواستعماري عزایم هیواد کـې دمجاهـدینو پـه وړانـــدې بشـــپړ ناکـــام دي اوداشغالګرودپنځلس کلن اشغال نه وروسته یبا هم ددوئ جـنرالان

پدې ندي توانيدلي ،چې پرافغان مسلمان ولس بری ترلاسه کړي .

همداسې د(فارن پالیسي-) په نوم یوې بلې مشهورې مجلې هم دامریکایي جنرالانوداکامی نه پرده پورته کړي او ددوئ رهبري ،اداري او محاربوي تخنیک یې له سراسري ماتي سره مواجه بللی ، فارن پالیسي په خپله وروستی ګڼه کې تر دې سرلیک لاندې چې امریکایي جنرالان په افغانستان کې ناکام شوي، مقاله خپره کړې ده.

د مقالې په یوه برخه کې راغلي، د امریکا پوځ په افغانستان کې له تکتیکي اړخه نه بلکې په پوځي اداره او رهبری کې د کمزوریو له امله ناکام شوی دی.

د فارن پالیسي په حواله، کله چې امریکایي جنرال (ډیویډ پیټرویس) د مجاهدینو پر ضد د مبارزې خپلې مشهورې کړنلارې وړاندې کړې، داسې انګېرل کېده، چې د امریکا پوځ په افغانستان او عراق کې د جګړې له شدید وضعیت سره ځان عیار کړی دی.

خو ډېر لنډ وخت وروسته څرګنده شوه، چې دا کړنلارې تر ډېره حده خیالي خبرې او ډېرې سرسري طرح شوې وې.

خپرونې له طالبانو سره جګړه کې د کابل داداري د اړتیاوو په اړه د امریکا د دفاع وزارت د یوه چارواکي په حواله لیکلي :چې هغوئ هوایي ملاتړ ته اړتیا لري، خو فارن پالسي- پوښتنه کوي ،چې که طالبان له هوایي ځواکه پرته پرمختګ کولای شي، نو دکابل عسکر ولې پرمخ نه شي تلای؟

د فارن پالیسي دلیکنې له مخې دا ښایي لومړی پوښتنه وي، چې ځواب غواړي ،ځکه امریکایي چارواکي تل په افغانستان کې د زیاتو عسکرو، تجهیزاتو او وخت غوښتنه کوي.

د خپرونې په حواله، دا غوښتنې د افغانستان د جګړې لپاره اساسي ځواب نه دی ،ځکه دا وضعیت ښایی اوږده موده پرځای پاتې شي او بحران دوام پیدا کړي.....

اوس چې ددې وخت رارسیدلی ،چې نور باید ځمکنۍ حقایق له نړیوالو نه پټ نشي، نو ځکه دادی دغرب مشهورو مجلو هم پرې قلمونه راتیت کړل او خپل پوځي جنرالان یې دناکامی تر مورګو ورسول ،داددې لپاره چې نور دلویدیځ روڼ آندې او ژورنالستان نه غواړې ،چې دتاریخ په وړاندې دتل لپاره دافغانستان دیرغل واقعیتونه له نړیوالو پټ وساتي او دخپل عادت له مخې هره ورځ

دخپلو يرغلګرو پوځيانواو جنرالانو دسوبې نغاري ووهي .

اوس چې امريکايان دماتي په ساحل ولاړ دي او دخپل يرغل وروستی لحظې شمارې نو دادی ددوئ دماتي اسباب مو په لنډ ډول تحرير کړي دي .

هيواد کې دامريکايانو دناکامۍ ډير وجوهات کيدلای شي ،خوځويې په لاندې ډول يادوو:

۱-پر يوه مشروع او داسې اسلامي حکومت(دافغانستان اسلامي امارت) يرغل ،چې هغې دخپلو عقايدو اوملي روياتوپه رڼا کې دافغان ولس حمايت او تاييد له ځان سره لاره .

۲-يوه داسې اداره يې له منځه يو ړه، چې هغې دهيوادتجزيې مخه نيولې وه اودهيواد استقلال ته ژمن وو،نو طبعې ده، چې داسې يو يرغل پر ولسي- ارادو يرغل وي او ديوه ولس مقابله آخر کې دناکامۍغمازي کوي .

۳-يرغلګرو افغانستان ته داسلامي عقيدې پرځای دعيسويت عقيده ،داسلامي نظام پر ځای ديموکراسي اوپه مجموع کې ديوې مردودې نظريې سره بريد وکړ،چې له امله يې دنظريو جګړه ونښته اونظريې په ټکرکې واقع شوي .

۴-دافغاني تهذيب پر ځای غربي تهذيب او دافغاني روياتوپر ځای لويديځ روايات دودل، پداسې حال کې چې دا قام (۵۰۰۰)کلن تاريخي قدامت لري او په هيڅ شان به خپلو ملي دودونوځخه نه تيريږي، خو بيا هم په تحميلي ډول اجنبي رسومات را واردول ددوئ دناکامۍ سبب شول .

۵-دطالبانو دحکومت په بدل کې پر افغان ولس يوه داسې اداره تحميلول، چې ټوله دغلو،قاتلانو،وطن پلورونکيواوله بې دينه عناصرو نه ډکه وه ،پخپله ولس او مجاهدين دې اړيستل چې ددوئ پر وړاندې وسله واله مبارزه وکړي اودټوپک په زرو ددې بلا نه ځان خلاص کړي او.....او.....او.....

که امريکا اونور حليفان يې رښتيا غواړې ،چې نور افغانستان کې دجګړې اور مړ شي او دوئ هم نور دخپلو وينو له تويدلو څخه نجات پيدا کړي، غوره لاره يې داده، چې خپل عسکر بې اوقيد او بې شرطه له هيواده وباسي ،دمجاهدينو پرضدخپل حسادت او عداوت پای ته ورسوي او افغانانوته د خپل برخليک ټاکلو فرصت ورکړي، نو شايد دا داسې پريکړه وي، چې هم به نړيوالوته ګټوره اوهم به افغان ولس ته نيکمرغي وروبخښي اوددوئ له غاړو نه به نړيوال مسؤليت هم پورته او له ننګونو نه به خلاص شي !

دوستم په شرمونو وشرمېد

■ حبیب مجاهد

د افغانستان د جګړو کرایي جګړه مار جنرال عبدالرشید دوستم چې په تیرو څو کلونو کې هر یرغلګر او غاصب واکمن د خپلو اهدافو لپاره د اجرتي قاتل په حیث جنګولی او د خپلو جنګي اهدافو بارونو یې پرې چلولي دي. په وروستیو پنځلسو کلونو کې یې د امریکایي یرغلګرو او د هغوی د ګوډاګیانو د جنګي حلیف او اجرتي توپکمار په حیث ظهور کړی.

دوستم لکه څنګه چې د امریکایي یرغل په لومړیو کلونو کې یې د شمال په سمنګان، بلخ او نورو سیمو کې دامریکایي یرغلګرو الوتکو تر وزرو لاندې د امریکا په مرسته او قومنده د افغان مجاهد اولس په وړاندې د یرغلیزې جګړې جنایت ترسره کړ، په دې وروستیو کې چې د ګډوله رژیم په تشکیل کې د ولسمشرۍ د مرستیالۍ په څوکۍ کینستی یو څل بیا یې د امریکایي اهدافو لپاره د مجاهدینو په خلاف جګړو ته مخه کړې ده.

دوستم په تیرکال او سږکال کې څو ځله د افغانستان شمالي ولایاتو جوزجان، سرپل او فاریاب ته تللی، هلته یې له ځان سره په سلهاوو جنګیالي،درنې وسلې او هوایي ځواک انتقال کړی او د مجاهدینو په خلاف یې په مخامخ جګړو کې ونډه اخیستې.

خو د شمالي ولایاتو د مجاهدینو په وینا دوستم چې هر ځل هلته تللی> نو له غوځ پوځي شکست سره مخامخ شوی او د جګړې په میدان کې یې درانه تلفات ګاللي.د اسلامي امارت په چوکاټ کې ددې سیمې مجاهدین چې مطلق اکثریت یې له اوزبک شریف قوم سره تړاو لري، وایي چې دوستم کله دې سیمو ته راشي او په جګړه کې شکست وخوري نو بیا د مخابرو له لارې په ازبکي ژبه په مجاهدینو غږ کوي او ورته وایي چې مورږ او تاسو سره قومیان او د یوې ژبې خلک یو، نو تاسو ولې د طالبانو ملګرتیا کوئ چې هغوی د ددوستم په باور له بل قوم سره تړاو لري.

خو د سیمې مجاهدین ورته په ځواب کې وایي چې مورږ د حق د لارې مجاهدین یو، د یرغلګر کفر په خلاف جنګیږو او اسلامي نظام مو

ارمان دی.مورِ په جاهلانه عصبیت او قومیت باندې عقیده نلرو، اسلامي امارت د کوم خاص قوم تحریک نه دی بلکې د ټولو مسلمانانو کور دی.مورِ ته مسلمان او مجاهد هغه که د هر قوم وي زمورِ عقیدوي ورور دی او ستا په شان فاسق او د کفارو ملګری که څه هم په ژبه او نژاد را شریک وي مورِ يې دښمن بولو او تر وروستۍ سلګۍ به ورسره وجنګیږو.

دوستم چې دا خبرې اوري نو د انتقام په خاطر په اولسي بې چارو خلکو بریدونه کوي او د طالبانو په نوم د اولسي- خلکو مالونه او شتمنۍ لوټ کوي چې په دې لړ کې يې د خلکو په سلګونو موټر، موټرسایکل او مواشي له ځان سره وړي او ډیرځله خو يې حتی د خلکو کورونه هم سوځولي دي.

د روان ۲۰۱٦ میلادي کال په نیمایي کې طالبانو د فاریاب ولایت د غورماچ ولسوالي فتحه کړه او خبره دې ته نږدې شوه چې د کندز د مرکز غوندې د فاریاب مرکز میمنه هم د طالبانو لاس ته ولویږي. دوستم چې فاریاب خپله د نفوذ سیمه بولي یو ځل بیا له لوی لښکر سره د فاریاب په خوا لاړ او د غورماچ د بیا نیولو لپاره يې خپل لښکر د جګړې ډګر ته ویوست.

خو د غورماچ په مربوطاتو کې طالبانو ددوستم په کاروان داسې بریالی کمین وواهه چې نومورې يې د مرګ پولې ته نږدې کړ.دا ځل د دوستم په وړاندې د مجاهدینو جګړه د پخوا په نسبت ډیره تونده او له نویو تاکتیکونو سره همغاړې وه، نو ځکه دوستم اړ شو چې له درنو تلفاتو وروسته ډیر ژر په تیښته له غورماچ څخه وتښتي.

د افشا شویو معلوماتو له مخې د غورماچ په وروستیو جګړو کې ددوستم له سلو زیات ټوپکوال چې زیاتره يې دده شخصي- ګارډان دي وژل شوي او تر پنځلس زیات پوځي موټر يې د کمینونو او ماینونو خوراک شوي دي.

دغورماچ په ورستیو جګړو کې د دوستم څو تنو مشهور جنګي قومندانان لکه صادق قصاب،شاه محمد، مجید قره ترکمن،رسول او د نومورې د شخصي ګارډ قومندان میرویس احمدي هم وژل شوي دي. دغه راز په جګړه کې د شمال لپاره د دوستم ځانګړی پوځي نماینده قومندان نظام هم مرګونی ټپي شوی دی.

د غورماچ په جګړه کې یو ځل د دوستم د ټپي کیدو خبر هم رسنیز شو چې ډاکټر عبدالله هم تائید کړ خو وروسته نومورې رد کړ او ډاکټر

عبدالله ته يـي د ښـکنځلو تـر حـده تـريخ غبرگـون وښود.

د رسـنيو معلومـاتو لـه مخـې د غورمـاچ لـه شکسـت او غـاښ مـاتوونکي گـوزار وروسـته دوستم د ليونتوب تر حده گنگس او سراسيمه شو، تردې چې په فارياب کې يې د امنيتـي غونـډې پـه مهال د فارياب والي ته مخامخ ښکنځلې وکړې او د هغه د وهلو هڅه يي وکړه،د امنيت ملي رئيس يي په برکناری وگواښه او د غفور پهلـوان پـه شـمول يې څو محلي پوځي قومندانان له دندو وشړل.

جوزجان تـه پـه رسـيدو د دوسـتم ليونتـوب نور هم زيات شو، تر دې چې په شبرغان کې يـې د يوې لويې غونډې په مهال داسې ليوني اظهـارات وکړل، چې ښايي تراوسه کوم حکومتي چـارواکي نه وي کړي.

دوسـتم اشرف غنـي او ډاکټـر عبـدالله دواړه قوم پرسـتان وبلـل چـې يـوازې د قـومي تـړاو پـه اساس خلـگ اسـتخداموي، د مـلي امنيـت رئـيس معصوم ستانکزی يې د برهـان الـدين ربـاني قاتـل وباله او دايي هم وويل چـې نومـوړی لـه طالبـانو سره لاس لري.

دوستم د ملي امنيت شوری چې خپله دی يې هم عضويت لري، په دې تورنه کړه چې په غورمـاچ کې يي دده د وژلو لپاره کمين طرح کړی و، خو ده ترې سر روغ ويوست. دوستم گواښ وکړ، چـې ده د اشرف غني غوندې ډير خلک له واکه غورځـولی او کـه وغـواړي اشرف غنـي هـم رانسـکورولی شي.دوستم نورې هم هغـه نـاپړيتې وويشـتې چـې څـو ورځـې وربانـدې مطبوعـات او د تلـويزوني صاحب نظرانو بحثونه ښه گرم وو.

خـو د نومـوړي ددې ليونيـو اظهـاراتو او باطني کړاو څخه معلوميږي ،چې نوموړي دا ځل د غورماچ له طالبانو سـم ژور خـرپ خـوړلی، تـردې چـې دده دمـاغي نظـام يـې کاواکـه کـړی دی . ددوستم دغه وروستني متزلزل حالت ته په پام سره فکر نه کيږي، چې دغه د خټو پړانگ دې بل ځـل د قهرمانو مجاهدينو په وړانـدې د جگـړې ډگـر تـه د تلو زړه وکړای شي.

دوستم چې د شرق او غرب يرغلگـرو د خپلـو تبليغاتو په زور ترې پهلوان او قهرمان جـوړ کـړی و، دا ځل يې په غورماچ کې داسې گـوزار وخـوړ، چې اوس يې د جگړه ايـز مـورال پـه شـان عصـبي توازن هم بايللی دی .

* * *

دنوي قائد ترقیادت لاندې ستر فتوحات

او د دښمن ناکام تبلیغات

حسن زدی

نن چې دابلاغ تېزو اوعصري وسایلونړی دیوکورپه څېر ګرځولی ده په جنګونو کې د دښمن پر ضد تبلیغات خورا کامیابه او مهمه وسله ګڼل کېږي او ددښمن د تبلیغاتو نه متاثره کېدل په جنګ کې د ماتې منلو په معنی وي.

امریکا او متحدینو یې چې هم خپل ښه ډېر نشراتي وسایل لرل او هم یې د نړۍ زیاتره نشر اتي اداري د پیسو او نورو لارو خپل لاس کې اخستی وې د خپلو او بهر نړۍ د دې رسنیو نه یې د جنګ د پیل کېدو نه وړاندې او د جنګ په جریان کې د یو فعال تلیغاتی مشین په توګه ښه ډېرکار واخست او له بده مرغه چې د اسلامي نړۍ ټول لبرال،سیکولراو ضعیف الایمان مسلمانان ددې تبلیغاتو نه متاثره شوی وو، بس د کلک ایمان نه برخمن مسلمانان چې د الله تعالی پر ذات یې نظر و او د الله تعالی په وعدو او مرستو یې یقین او دشریعت په تعلیماتو عمل کول او د خدای حکمونه منل یې اصل کامیابي ګڼله یواځې همدوئ ددې تبلیغاتو نه، نه وو متاثره شوي او پدې یې یقین و چې سره د ټولو وسایلو به باطل ناکامېږي او وروستی فتح به د حق په نصیب کېږي،

د نړۍ په رسنیو کې د ډېرې مودې راهیسې ښه په لویه پیمانه د امریکا لپاره دا تبلیغات کېدل چې ګواکې امریکا ناقابل شکست ځواک دی او په نړۍ کې هیڅوک داسې نشته چې د امریکا په مقابل کې دجنګ ډګر ته د راوتلو جرأت وکړي او یا یې په مقابل کې جنګ جاري وساتلای شي نو ځکه به د نړۍ ډېرې برخې په ډېرې حیرانتیاویل چې ولې طالبانو د امریکا غوښتنې و نه منلې او په کوم ډاډ او جرأت یې د امریکا مقابلې ته د راوتلو پریکړه وکړه؟

امریکا چې د تبلیغاتو په اهمیت ښه پوهېدله نو پر افغانستان د یرغل نه پس یې خپله تبلیغاتی دستګاه لاپسې قوی کړه ،په هېواد کې دننه او دهېواد نه بهر یې په سونو رسنیو رامنځته او ټولی یې د خپلو موخو لپاره استخدام کړې او ریښتیا دا ده چې له دې رسنیو یې ښه ډېر کار واخست ؛په روان جنګ کې په ډېرو اړخونوکې د امریکا کمزوري راښکاره شوه او په یو اړخ کې هم د خپل ضعف په پټولو ونه توانېده خو دا باید ومنو چې تبلیغاتی دستګاه یې کمزوری نه شوه ؛د حقایقو د مسخ کولو هنر یې ډېر پرمختګ کړیدی او د خلکو د غولو مهارت یې لا ډېر قوی شویدی.

خپل کوچنی پرمختګ ډېر غټول؛ دمقابل لوري فتوحات هم په شکستونو تعبیرول او یو کوچنی مشکل یې د ډېرې لویې ستونزې په شکل وړاندې کول د همدې تبلیغاتی هنر مظاهر دي.

د امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهدرحمه الله تعالی د وفات د خبر د خپریدو نه پس د نوي امیر په صفت امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله تعالی سره د امارت ټولو مشران بیعت کړی و خو چې د ګوتو په شمېر څو تنانو په بیعت کولو کې توقف کړی و نو دا یې د ټول امارت په دوه برخو په ویشل کېدوتعبیراوه اوپه ډېره منظمه توګه به یې د خپلو رسنیو له لارې په ډېر شدو مد دا خبره کوله چې طالبان نور په دوه برخو وویشل شول او له دې بعد یې په واحد قیادت راجمع کېدل ناممکن شول.

له دې لږه موده پس د اسلامي امارت یو کوچنی یا لوی غړی هم داسی پاتې نه شو چې د امیرالؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله سره یې بیعت نه و کړی او په یوې وړې ساحی کې چې کومه مخالفه کوچنۍ ډله وه هغه هم باقي پاتی نه شوه خوپه دوه برخو د طالبانو د ویشل کېدو دا تبلیغات تر پایه وندریدل .

دا سمه ده چې امریکا په لاس د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور شهادت یوه لویه حادثه وه خو د مجاهدینو د مورال غورځولو او د نړۍ د مسلمانانو مایوسه کولو په موخه امریکا د خپلو رسنیو له لارې د اپېښه دومره لویه کړی وه لکه چې خدای مکړه اسلامي امارت ببخې د سقوط سره مخامخ کېدونکې او جهاد ودربدونکی و .

بیا چې ټولو مجاهدینو او غیورو مسلمانانو شیخ الحدیث مولاناهبت الله آخنزاده د امیرالمؤمنین په صفت ومانه ؛د الله تعالی په فضل او کرم په ټول هېواد کې یو مخالف اواز هم راپورته نه شو او امریکا ته ددې تبلیغاتو ځای پاتی نه شو چې ګینې طالبان په دوه برخو وویشل شو نو داتبلیغات یې پیل کړل چې د طالبانو دا نوی مشر جنګی تجربه نه لری نو په کامیابی سره به د جنګ فیادت ونګړای شي او ژر به طالبان د جنګ ډګر کې ناکام شي.

د سیمې ډېر هغه وګړي چې ځانونه مبصرین پوهان او څېړونکی بولي د امریکا ددې تبلیغاتو نه متاثره شوی وو او هماغه د دښمن تبلیغات به یې په خپلو ژبو تکرارول .

دوئ دا خبره هېره کړی وه چې د اسلامي امارت اداره بهرته ساده ښکارېدونکې خو په حقیقت کې ډېره منظمه اداره ده ؛دلته شورا یې نظام دی ؛ په وراثت نه بلکې دا هلیت له مخې مشرانوته مشری ورسپارل کېږي ؛دعاموژمنومسلمانانوپه څېربه داسلامي امارت مشران اوکشران د قائدینو په تللو خامخا غمجن کېږي خو الحمدالله ګډوډي پکې نه راځي او نه یې هم نظم ته کوم اساسي تاوان رسېږي.

نړۍ باید په دی ځان پوه کړی چې هغه مشران طالبان چې د اسلامي امارت په چوکاټ کې یې له تېرو کابو ۲۰ کلونو راهیسی خدمتونه کړیدی هغه هر یو د سیاست او جهاد د ډګر ونو کامیاب شاه سوارادی ؛ پدې هم باید هر څوک ځان پوه کړی چې د طالب مجاهدینو جهاد د کوم مشر لپاره نه بلکې د

الله تعالی د رضا لپاره وی ؛ د مشرانو په تللو نه کمزوری کیږي او نه ودریږي.

نو ځکه د شیخ الحدیث هیبت الله د راتلو نه پس نه یواځې دا چې د جهاد ډګر کمزوری نه شو بلکې لا پسې قوي شو، د همده ترقیادت لاندې کې له شمال تر جنوبه ډېرې سترې سوبی رامنځته شوې غوندې غوندې ولسوالی او فراخې سیمې فتحه شوې د دښمن ډېر ګڼ ستر فوځي مراکز ونیول شول دښمن ته ډېره درنده مزګ ژوبله واوښته او نښه ډېر حکومتی ملښې مجاهدینو سره یو ځای شوې او اشغالګر امریکایي ځواکونه او د کابل اداره ددومره ورځطایې سره مخامخ شوه چې د خپلې ورځطایې په پټولو هم ونه توانېدل ؛سختې وېرې اخستی دي او هیڅ نه پوهېږي چې څه وکړي بس ایله همدومره څه ورپاتې دي چې آقا او غلام یو پر بل د شکستو ملامتیا ورواچوي.

مورِ باوري یو او خپلو ګرانو هېوادوالو او ټول مسلمان ملت ته اطمینان ورکوو چې همدا صالح مشر چې دښمن ناتجربه کار ګڼلو د همده په مشرۍ کې به د مجاهدینو د فتوحاتو لړۍ لاپسې تېزه شي آقا او غلام دواړه به دسخنی تاریخی ماتې سره مخامخ شی د شریرو اشغالګرو د ناپاکو قدمونو نه به زمورِ هېواد پاک او د شر نه به یې ټوله سیمه په امن کې شي.

* * *

رضوان الله (فیضاني)

د نیزو شرنګ

په فطرت کې مې خوښ نه دی د بنکړو شرنګ
ورک شه ورک شه د پای زېب او د پاولو شرنګ

پرې عاشق یم صبرېدلی ترېنه نه شم
خوښ مې دی د سپینو تورو او نیزو شرنګ

رب جلیل ته هم بې حده ډېر محبوب دی
پښو لاسوکې د اسیر د زولنو شرنګ

چې زما د زړګي مینه پرې ماتېږي
خو د به ستایم ذوالفقار او د برچو شرنګ

له باننګه شازلمیو سره ښایي
په پنجرو کې د ولچک او هتکړو شرنګ

ذوالجلاله ته پخپل درکې قبول کړي
دا زمونږ د سپین خنجر د کوزارو شرنګ

په پښوکې د زمریانو تل مدام وي
د درنو او وسپنیزو ځنځیرو شرنګ

(فیضاني) زما ویده احساس راویښ کړي
د غازي جانان د تورې د وارو شرنګ

جنرال دوستم؛
بازیچه دست وحدت ملی!

ابوصهیب حقانی

جنرال دوستم که تاریخ نامناسب و بسیار وحشتناک در افغانستان دارد ،همیشه به صورت مصرفی از او استفاده شده است مخصوصا پس از روی کار آمدن حکومت نام نهاد وحدت ملی (که جنرال دوستم من حیث معاون اول حکومت) با شریک شدن داکتر عبدالله به حیث قدرت دوم وحدت ملی، تمام صلاحیت و اختیارات معاونیت اول او تحت الشعاع قرار گرفت ،و به حیث یک نماد کاملا فرسایشی در بدنه ای فرسوده وحدت ملی درآمد.

از بی سوادی، کم عقلی، جهل و نادانی، عدم درک و دانش سیاسی و یا از سادگی و ساده دلی جنرال دوستم، اعضای وحدت ملی سوء استفاده کرده و او را بسیار زیرکانه از تمام مسائل ریز و درشت ارگ و مسائل پایتخت دور نگاه داشتند؛ اشرف غنی که روزی خود جنرال دوستم را یک دیکتاتور محلی می خواند فقط در موقع انتخابات به رای قوم ازبیک با استفاده از جنرال دوستم ضرورت داشت که تا حدودی در وقت انتخابات به این هدفش رسید و پس از آنکه در ارگ بر تخت تکیه زد؛ و باز وقتی شریک تو و دور ار انتظار (داکتر عبدالله)، توسط امریکایی ها در بغل وی تراشیده شد، دیگر ضرورتی به جنرال دوستم ندید؛ و حتی با همدستی داکتر عبدالله و مشاورین خارجی و داخلی اش سعی در دور زدن و دورنگاه داشتن جنرال دوستم از مسائل مملکت داری و سیاست های ارگ کرده و او را با چند کلمه ای دروغین فریب داده یونیفورم نظامی به تن او کرده و وی را به میدان های جنگ گسیل داشت چیزی که در اوائل دوستم با علاقه مندی قبول کرد؛ اما رفته رفته وقتی از سیاست های مکرآمیز ارگ نشینان آگاه شد (و از آنجا که سواد سیاسی و توان فکری اداری و استفاده از چوکی نام نهاد که به نامش کرده بودند را نداشت یا اصلا بی صلاحیت بود که خودش نیز در یک اظهار نظر صریح به این موضوع اعتراف کرد) کار از کار گذشته بود؛ گاهی تعصب کرده چندین ماه به ترکیه پناه برد؛ گاهی چند صباحی در کابل دست به شکایت بازی از طریق رسانه ها زد و ... اما هیچ کدام به حالش

فایـده نکـرد؛ و اشرف از وی هـمان کـاری را کشـیده و مـی کشد که به سـود او و تـیم هـم فکرش باشد نه به نفع جنرال و دار و دسته اش!؟

اما این جنرال بـی سواد و در عـین حـال نـادان بـازهم ندانسته؛ چـون هرگـاه فشـاری از سوی طالبان بر سر نیروهای شکسـت خـورده حکومـت در مناطق شمالی کشور پیدا مـی شود؛ هوشیارهای ظاهرا زیرک وحـدت ملـی، فـوری او را یونیفـورم نظـامی پوشـیده و بـا شـاباس و آفـرین، چکچـک و هـوراء، بـه میـدان جنـگ مـی فرسـتند؛ امـا سـوال اینجاسـت که از رفـتن جـنرال بـه میـدان جنگ چه سود؟

آن هم میدان جنگی کـه بارهـا جـنرال دوسـتم در آن شکست خورده و ذلیل و ناکـام برگشـته و جـز چنـد عکـس فیسـبوکی و نمـایش در صفحات اجتماعی دیگر کـدام دسـت آورد نداشـته اسـت؛ بـا آنکه بارها لاف تصفیه مناطق شمال از وجود طالبان را داده است؛ اما جز آنکه خودش و ملیشـه هـای تحت امر خود را به کشتن و تصفیه شدن داده، و دها عراده جات نظـامی را سـالم از دست داده و به تعداد زیاد تجهیزات نظـامی را در نـبرد بـا طالبـان از بـین بـرده کمترین چـانس پیـروزی هـم نصیب اش نشـده اسـت و ذلیـل و خـوار، تبـاه و برباد، شکست خورده و از هم پاشیده باز به کابل برگشته و خسارات هنگفتی را روی دست وحدت ملی گذاشته است؛ اما وحدت ملی ایـن زیـان هـای جـنرال دوسم را نادیده گرفته و تحمل مـی کنـد؛ چـون وجـود او در کابـل و در لبـاس شخص دوم مملکت را بیشتر به زیان خود می بیند؛ لذا همچنـان او را بـا دادن القاب دروغین و خیالی مورد تمجید و ستایش قرار می دهند .

تعجب اینجاست که مگر از حماقت یک انسـان، انسـان هـای اسـتفاده جو چندبار می توانند سوء استفاده کنند؛ که ایـن همـه اسـتفاده توسـط حلقـات خاص ارگ از جنرال دوستم می شود و آیا واقعا دوسـتم کـه خـودش پـاک بـی سواد است چهار مشاور با سواد خارجی و داخلی در اطرافش نیستند کـه او را از خواب حماقت بیدار کرده و بفهمانند که جز آنکه بازیچه ای دست وحدت ملـی گردیده و در دام القاب و القاءات دروغین ارگ نشینان گیرمانـده؛ اصـلا بـرای سران وحدت ملی، حیات و حیثیت او مهـم نبـوده و دور کـردن دوسـتم از ارگ کاملا یک دسیسه سیاسی و عمدی است؟!؟

اما افسوس به حال آن مردمیکه بچه هـای نـازنین خـود را تحـت فرمـان شـخص جـاهلی مثـل جـنرال دوسـتم کـه از ظلـم و جنایـات وی کـل ملـت (بالاخص در صفحات شمال) در ستوه است به کشتن داده و به فرزنـدان خـود رحم نکرده و با اینکه از قبل، جنرال را بازنده اصلی و شکست خورده اول و آخر میدان های نبرد با طالبان می دانند باز هـم در مسـیر غلـط او جگرگوشـه هـای خود را تلف کرده و به حال خود و آینده شان رحم نمی کنند.

بـــه امیـــد شکســـت روز افـــزون پیـــروان باطـــل
در تمـــــام میـــــادین حـــــق و باطـــــل

داسلام غزوات اوسرايا

دوهمه برخه
ابوظـــهير

د مُرَيسيع يا بَنى المُصطَلَق غَزوه

دَعُوهَا فَانّهَا مُنتنَة

ژ: پريږدئ داخبرې په تحقيق سره دا گنده او بد بويه دي.

دا د رســـــــول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک ارشاد دی تـرې معلومـه شـوه چې ښې خبرې پاکې او خوشبو لرونکي دې او بدې خبرې نـاولې اوبـد بويـه دي چې پـه ظـاهري او حسي ډول دالله تعـالى اسـتازي (انبيـــاء عليـــهم الســـلام او دهغـــوى وارثـــان يـــې محسوسوي.

وعن جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قـال كُنَّـا مَـعَ النَّبـى صـلَّى الله عليـه وسلم فَارتَفَت رِيحٌ مُنتَنَـةٌ فقـال رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَدرُون مَـا هـذِهِ الـرِيحُ؟ رِيـحُ الّـذِينَ يَغتَابُونَ المُـؤمِنِين (رواهُ احمـد وابـن ابـى الـدنيا رواة احمـد ثقات)

ژباړه: حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي:مونږ درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يوځاى وو ناڅاپه سخت بدبوى پورته شـو رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايـل: تاسوپوهيږئ چې دا بد بوى دڅه دى؟ دهغو خلکو د خولو ځې چې هغـوى اوس مهال دمسلمانانو په غيبت لګيا دي دا حديث امام احمد او ابـن ابـى الـدنيا روايت کړى دى دامـام احمـد دسـند تـول روايـان ثقـه دى (ترغيـب وترهيـب للمنذري ۳ټوک ۳۰۰مخ چاپ مصر)

له دې حديث ښکاره شوه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او و ر سره هلته ناستو صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دغيبت بدبويې محسوس کړه! داچې هغـه بـدبويې دڅه شي له امله وه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له وينا معلوم شو.

امام سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ په خصايص کبرى کې (باب ما وقـع فـى غـزوة بنـى المصطلق من الايات) يعنې په غزوه بني المصطلق کې د ليدل شـومعجزو عنـوان لاندې دابو نعيم په حواله پورتنى روايت په لاندې الفاظو روايت کړى:

عن جابر قال كنا مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى سَفَر فَهَا جَت رِيحٌ مُنتنَـة فَقَال النبىُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ نَا سـاً مِنَ المُنا فِقِينَ اَغتَابُوا نَاساً مِنَ المُـؤمِنين فَلِـذلِکَ هَاجَت هذِهِ الرِيحُ.

ژ: د حضـــرت جـابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نـه روايـت دى وايـي مـونږ درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په يو سفر کې ملګري وو ناڅاپه سخت بدبوى پورتـه شـو (چې غالباً وړانـدې نـه و ليـدل شـوى و او نـه اوريـدل شـوى و) رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل. (تاسو په دې عجيبه او نـا اشـنا بـدبوى حيرانيـږئ مـه) اوس څوتنو منافقينو دمومنانو غيبت وکړ په دې وجه دا بد بوى راغى، يعنې داد مومنانو دغيبت عفونت دى په دې وجه پکې شدت او غرابت زيات دى

دحافظ سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ له خپرې معلومپرې چې دغيبت دبد بوی واقعه په بنی المصطلق غزوه کې پېښ شوې او هم دې ورته يوه واقعه مدينې منورې ته څېرمه هم شوې څنګه چې په صحيح مسلم کې دحضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی: چې کله مونږ دبنې المصطلق غزوې څخه بيرته راتلو مدينې منورې ته نژدې رسيدلي وو ناڅاپه يوه ډېره بد بويه او متعفنه هوا راغله، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دا بدبويه هوا دکوم منافق سړي د مرينې ده (خصائص کبری ۱توک ۲۳۲مخ)

غالباً دکوم منافق سړي دخبيث او ناولي روح دهغې دښتې تولې خلا متعفنه ګرځولې وه، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دهغه ملګرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ هم محسوس کړه.

نومیالی سیرت لیکونکی او محدث مولانا محمدادارېس کاندهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي: څښتن تعالی پخپلو غوره بنده ګانو دکفر نجاست اونحوست منکشف کړی، په دې وجه يې په وړاندې سر ښکته کول اومنل پکاردي لکه يوزکام نيولی او بې حسه سړی چې دګلاب خوږ بوی او د متيازو بدبوی نه محسوسوي او دا په صحيح الحواس حجت نده چې هغه دې هم نه محسوسوي، هم داسې دپاکو کلماتو پاک او خوږ بوی او دخبيثه کلماتو خبث او بد بوی غوره بنده ګان محسوسوي.

بهر ازين بايد حواس اهل دل

په جامع ترمذي کې له عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

اِذا کَذب العبدُ تَبَا عَدَ عَنهُ المَلکُ مِيلاً مِن نَتنِ مَاجَاء بِهِ

ژ: هرکله چې يوتن دروغ وايي، نو فرښته د دروغو بدبوی له وجې يوميل لرې درومي. (ترمذي شريف ۲توک ۱۰مخ)

په مسند احمد ، جامع ترمذي، سنن ابي داود، نسائی او مستدرک حاکم کې له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

کوم خلک چې ديو مجلس څخه دالله تعالی دذکر پرته پاڅي ګويا چې دمردار خره(جيفه حمار) څخه پورته شي

امام ترمذي وايي: چې دا حديث حسن دی حاکم وايي: په شرط دمسلم صحيح دی دبخاري او مسلم په قدسي حديث کې دي چې:

کله چې يو بنده دکوم نيک عمل اراده وکړي نو فرښتې دهغه عمل کولو څخه وړاندې يواځي په اراده کولو سره دهغه لپاره يوه نيکي ليکي، او دکولو څخه وروسته دلسو څخه نيولې تر او وسوه پورې نيکياني ورته ليکي، او کله چې بنده دبدی اراده وکړي څو چې يې ونکړي ترهغه يې بدې نه ليکي

دپورته حديث نه معلومه شوه چې کراماً کاتبين فرښتوته دانسانانو دقلبې (زړه) ارادو په اړه هم څه نه څه خبرورکول کېږي ولې که نه ورکول کېږي نو يواځي دنيکی په اراده کولو سره هغوی څنګه نيکې ليکي.

ابو عمران جواني وايي: دغه مهال فرښتوته اواز کېږي چې دفلاني په عمل پانه کې دا نيکي وليکئ فرښتې عرض کوي اې الله ! هغه خو دا نيکي نده کړې ځواب ورکول کېږي: هو! اګرکه نيکي يې نده کړې خو دکولو يې اراده کړې.

سفيان بن عنيينه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي:

کله چې بنده دکومې نيکۍ کولو اراده وکړي دهغه دننه ديوې داسې پاکيزه او خوږې خوشبويې وږمې پورته شي چې فرښتې پوشې چې هغه دکومې نيکۍ اراده وکړه اوکله چې دبدۍ اراده وکړي دهغه دننه يو خبيث بدبوی پورته شي چې دهغه په سبب فرښتې پوشې چې دبدۍ اراده يې وکړه .

حافظ عسقلاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي دامضمون طبري له ابومشعر مدني څخه نقل کړی دی او ما پخپله د حافظ مغلطايي په شرح کې په دې مضمون يو مرفوع حديث هم ليدلی دی.(فتح الباري ۱۲توک کتاب الرقاق باب من هم بحسنة او بسية ۲۷۸مخ)

څنګه چې هر عطر جلا خوږ بوی لري عجيبه نده چې هم داسې دي هره نيکي جلا خوږ بوی ولري څنګه چې عطر جوړونکي او عطر پلورونکي عطر په بويولو سره پيژني چې دا دفلاني عطر خوږ بوی دی ممکن ده فرښتې هم دخوشبويې په بويولو سره معلوموي چې دا دفلاني عمل خوشبويې ده .والله سبحانه وتعالى اعلم وعلمه اتم واحكم

څنګه چې په همدې بني المصطلق غزوه کې عبد الله بن ابی او دهغه ملګرو ويلي وو چې کله دوی بيرته ستانه شي عزتمن به له مدينې څخه زليلان باسي! کله چې دهغه ځوی چې هغه هم عبد الله نومیده خبر شو نو پلارې ونيو او ورته وي ويل:

په خدای سوګند ترهغه به تا مدينې ته پرينږدم چې لاړشي څو اقرار ونکړي چې ته ذليل يې! او رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عزتمن دی.

هرکله چې پلار يې پورته اقرار وکړ بياايله يې پرينبود.

حافظ عسقلاني وايي پورته واقعه ابن اسحاق او طبري هم راوړې ده (فتح الباري سورة المنافقون)

عبد الله رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ (بن عبدالله بن ابی ابن سلول) چې کله مدينې منورې ته ورسيد درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ:

يار سول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته خبر رسيدلی چې ته زما پلار د وژلو حکم کوي که اجازه وي زه پخپله دخپل پلار سر قلم کوم او تاته يې راوړم اوکه ته بل چا ته د هغه قتل حکم کوي هسي نه زه په غوصه شم او په جوش کې دخپل پلار قاتل قتل کړم، په دې سره به زه ديومسلمان دقتل مرتکب وګرځم.

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه دخپل پلار دقتل کولو څخه منع کړ او ورته يې دهغه سره داحسان او ښه سلوک کولو حکم وکړ .

نوربيا ...

دجهاد فقهي مسائل

مفتي ابو محمد (حقاني)

(۳۲برخه)

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اسلام منل، جزیه ورکول، یا سوله!

دسولې ترون له چاسره جایز دی؟

فقهاء رح فرمایي : چې دسولې ترون یا معاهده ، ددریو ډلو سره روا ده اوپدې مسئله کې دځینو ارخونوپه اړه څه کلام شته، چې وروسته به له تقصیل سره راشي ، دادې ډلې چې اسلامي شریعت ورسره دځینو مصالحو له مخې روغه جوړه روا بللی په لاندې ډول تشریح کیږي.

الف : اهل الحرب (عام ددې نه چې دا اهل کتاب وي که غیر اهل کتاب).

ب : مرتدین یا هغه څوک چې د اسلام له منلو نه پس یې ارتدادکړی وي .

ج : بغات یا هغه څوک چې دیوه مسلمان امام پر خلاف یې پاڅون یا بغاوت کړی وي.

الف : له اهل حربو سره دسولې ترون :

له اهل حرب (محاربو کافرانو)سره مهادنه یا دسولې ترون شریعت کې جایز دی، اهل کتاب که هرڅوک وي، ورسره سولې کولو کې کوم ډول حرج نشته ،دا اهل حرب که اهل کتاب (یهود او نصاری وي)او که نور مشرکین وي، ددې لپاره چې دعامو محاربینو سره دسولې ترون جایز دی،په (الموسوعة الفقهية) کې یې ددې داثبات لپاره په منصوص دلیل کې داقوال دباري تعالی ذکر کړی دی، چې فرمایي : { بَرَاءَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ وَأَذَانٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ فَإِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ إِلا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ } سورة التوبة / ١ ـ ٤ .

دسورت توبې ددې کریمه آیت له عموم څخه معلومیږي، چې سوله له هر ډول محارب سره ممکنه ده، هغه که مشرک دی، که یهودي که نصارني اوکه نوردي ،دلته چې دمشرکینو سره دسولې معاهده روا شوه ،نو داهل کتابومحاربینو سره هم رواشوه ،دوئ دهغوئ نه په کفر که څه را ټیټ دي ،البته دسولې لپاره مومخکې بحثونو کې شرطونه واضح کړي دي،چې هغه شرطونه موجود شي ،بیا ورسره سوله شونې کیدای شي .

ب :له مرتدينو سره دسولې تړون :

په (بدائع الصنائع للكاساني) او(فتح القديرلابن الهمام رح) کې چې دحنفي مذهب خورا معتمد او باوري کتابونه دي ،دمرتدينو سره دسولې معاهده يا تړون جايز بللی، خو يو لړ شرطونه يې هم ددې روغې جوړې لپاره وضع کړي دي ،چې تفصيل يې ددې حوالو سره کټ مټ داسې ليکلی :

احناف سادات فقهاء رح فرمايي له مرتدينو سره سوله روا ده، خو چې کله لاندينې صورتونه وي :

وتجوز موادعة المرتدين إذا غلبوا إِذَا غَلَبُوا عَلَى دَارٍ مِنْ دُورِ الإِسْلامِ وَصَارَتْ دَارُهُمْ دَارَ حَرْبٍ ، وَخِيفَ مِنْهُمْ وَلَمْ تُؤْمَنْ غَائِلَتُهُمْ لِمَا فِيهِ مِنْ مَصْلَحَةِ دَفْعِ الشَّرِّ لِلْحَالِ ، وَرَجَاءَ رُجُوعِهِمْ إِلَى الإِسْلامِ وَتَوْبَتِهِمْ ، وَلا يُؤْخَذُ مِنْهُمْ عَلَى ذَلِكَ مَالٌ ، لأَنَّ الْمَالَ الْمَأْخُوذَ عَلَى تَرْكِ الْقِتَالِ يَكُونُ فِي مَعْنَى الْجِزْيَةِ ، وَلا تُؤْخَذُ الْجِزْيَةُ إِلا مِنْ كَافِرٍ .

أَمَّا إِذَا لَمْ يَسْتَوْلُوا عَلَى بَلْدَةٍ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ كِيَانٌ فَلا يُعْقَدُ لَهُمْ هُدْنَةٌ ؛ لأَنَّ فِي ذَلِكَ تَقْرِيرَ الْمُرْتَدِّينَ عَلَى الرِّدَّةِ(بدائع الصنائع ٧ / ١٠٩ ، وفتح القدير ٥ / ٢٠٧)

ژباړه : له مرتدينو سره سوله روا ده ،خو هغه وخت چې مرتدين په کومه سيمه ،ښار يا هيوادباندې متغلب شول او په زور او جبر يې دتوپک او ډنډې په مټ ددې ځای خلک تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستل ،ددوئ دا اشغال شوي سيمه ،هيواد يا کوم ښار دارالحرب وګرځيد،ددې مرتدينوځخه خطرموجود وواو کوم اطمينان ددوئ له شرارت څخه نه و موجوداو دې مصالحت کې داوسمهال لپاره دشر دفعه وه او ددې اميد هم وو،چې دوئ به له ارتداده توبه وباسي او اسلام ته به رجوع وکړي ،نو پيسې به پدې سوله کې نه اخلي ،ځکه پيسې چې دترک القتال په بدل کې اخستل کيږي ،هغه دجزيې په معنی سره وي اوهغه له کافرو څخه اخستل کيږي، خوکه چيرته داسې صورت وي، چې دا مرتدين عناصر په کومه سيمه ،هيواد يا علاقه متسلط او واکمن نه وي ،نه يې کوم اداري جوړښت ،تشکل او سياسي سيستم وي، نوپدې مذکور صورت کې ورسره دسولې تړون ندی روا ،داځکه چې په لوس لاس دوئ ته قوت ورکول اوپه ارتدادې نور هم غښتلي کو ل دي .

ددې څخه داڅرګنده شوه، چې له مرتدينو سره دسولې معاهده مشروطه پدې ده، چې دوئ کوم سياسي ،نظامي او اداري جوړښت ولري ،دحکومتي تشکيل له مخې پر يوه ځای واکمن وي، منظم دول چاري سنبالوي ،نو ددې لپاره چې دوئ اسلام ته رجوع وکړي او خلک يې له شرارتونو څخه بچ پاتې شي ،نو بيا به اسلامي حکومت ورسره سوله کوي او که داسې کوم قوت يې نه درلود، بلکې يو څوکسو داسې غلطه لاره نيولې وه اوددې مذکوروخطراتو احتمال ترې نه هم و،نو بيا ورسره سوله کول نادرست دي او پدې سره دوئ په ارتدادکې لا پسې پياوړتيا ته هڅول کيږي، نو بايد چې اجتناب ترې وشي .

مالکیان حضرت فقهاء رح فرمایي : چې که چیرته کومه ډله پداسې وخت کې مرتد ه شوه ، چې دوئ په اسلام متقرراو محکم وواو مونږپرې قادر شواو غلبه مو پرې ومونډله ،نوددوئ حکم به داسې وي، لکه دمسلمانانوداصلي مرتدینونو! پدوئ به دداسې مرتد حکم کیږي، لکه چې په هغه مسلمان چې کوم حکم کیږي ،چې هغه له اسلام منلووروسته مرتدشوی وي، نه دهغو کافرو چې هغوئ خپل عهد اوتعهد نقض کړی دی(جواهر الإکلیل ۱ / ۲٦۹ ، ومواهب الجلیل ۳ / ۱ ۳۸ ـ ۳۸٦ .) .

شوافع او حنابله حضرات فقهاء رح فرمایي چې :کله مرتدین له مسلمانانوخخه جلا داسې یوې سیمې یا وطن ته غوندې شول ،چې هلته دوئ خپله دفاع کولای شوه اوهلته یې قوت پیدا کړ،نو له هغې نه وروسته چې ورسره داسلام په باره کې مناظره وشي او دلایل ورته واضح شي ،قتال او جګړه یې پر خلاف واجب ده او دوئ سره به ،له انذار اواعذار نه وروسته داهل حربو غوندې قتال کیږي (الأحکام السلطانیة للماوردي ص ٥٦ ، والحاوي ١٦ / ٤٢٥ ، وکشاف القناع ٦ / ۱۸۳ ، والأحکام السلطانیة لأبي یعلی ص ٥۲ .)

ج : له باغیانو سره روغه جوړه کول :

په (الموسوعة الفقهیة) کې لیکي چې : دفقهاوو رح ترمنځ پدې کوم اختلاف نشته، چې له یاغیانو سره سوله یا معاهده په پیسو نده روا ،که احیانا بیا هم دمسلمانانوامام ورسره په پیسو ورکولو سوله وکړه، دا دسولې یا موادعې ترڅو یې باطل دی (الأحکام السلطانیة لأبي یعلی ص ۴۰.)،که چیرته دوئ (باغیانو)دسولې مطالبه وکړه، او مسلمانانوته پکې خیر و،نو حکومت به ورسره دمسلمانانو دمصلحت له مخې او له مال نه پرته سوله وکړي، که چیرته ددې باغیانوڅخه داسې څه معلومیدل، چې اطاعت به وکړي او حق ته به رجوع وکړي ،نو دمسلمانانوامام به ورته مهلت ورکړي ،(ابن المنذررح)وایي : چې ټولوعلماوو پدې باندې اجماع کړې ،که چیرته ددې باغیانواراده داسې معلومیده، چې دوئ لګیا دي، خپل ملګرې راټولوي ،طاقت ډیروي او دقتال اراده یې ده، یا غواړي ،چې په کوم چل ول پاچا یا امام قتل کړي، نو بیا به امام ورته صبر نه کوي او حمله به پرې کوي . دا مسایل لاندنیو فقهي کتابونوکې لیکل شوي دي (الفتح ٤ / ٤۱٥ ، حاشیة ابن عابدین ۳ / ۳۱۱ ، الشرح الکبیر وحاشیة الدسوقي ٤ / ۲۹۹ ، التاج والإکلیل ٦ / ۲۷۸ ، المهذب ۲ / ۲۱۹ ، المغني ۸ / ۱۰۸ .)

چې پورتنی مفهوم په الموسوعة الفقهیة کې پدې عبارت را نقل شوی : لا خِلافَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي أَنَّهُ لا يَجُوزُ مُوَادَعَةُ الْبُغَاةِ بِمَالٍ . فَإِنْ وَادَعَهُمُ الإِمَامُ بِمَالٍ بَطَلَتِ الْمُوَادَعَةُ ، وَإِنْ طَلَبُوهَا أُجِيبُوا إِذَا كَانَتْ بِغَيْرِ مَالٍ وَكَانَ فِي عَقْدِهَا مَصْلَحَةٌ لأَهْلِ الْجَمَاعَةِ .....

نوربیا.....

* * *

(سعید بدخشانی)

طالبان

دوستم را به زانو در آوردند

جنرال دوستم ومليشهای پرورده وی که در چندین دهه گذشته در کشتار دسته جمعی،قتل عام،ظلم،وحشت،فحشاء،چور وچپاول اموال ملت مظلوم شهرت ونقش عمده ای داشت ونیزدارد،وبه شکل مستمر آله دست بیگانگان ویاهم منحیث یک جلاد قسی القلب جهت تطبیق اهداف شوم کشور های کفری برملت متدین افغان تحمیل، ودست به مظالم وجنایات نابخشودنی زده است که هیچگاهی ملت شریف افغان و تاریخ آنرا فراموش نخواهند کرد.

جنرال بی سواد(دوستم) در وقت اقتدار داکتر نجیب کمونیست بحیث قوماندان جنگی گماشته وبه ولایات مختلف مانند کندهار،خوست وکندز اعزام شد که در این ولایات هزاران مردم بی دفاع اعم از خانم ها،اطفال ومحاسین سفیدان را بخاک وخون کشانید ودارای های مردم را به یغما بُرد.

آری!دوستم در افغانستان بجز تبهکاری،فساد نسل کُشی دیگر کاری انجام نداده است،همین است که کفر جهانی بسرکردگی امریکا وی را بار دیگر برملت ستم دیده کشور مسلط ساخت،حالا این خائن ملی زیر نام های جنگ با مجاهدین براقوام مؤمن کشور جور وظلم می نماید.

اما طالبان یگانه نیروی اند که جنرال دوستم کمونیست ومليشهای غارتگر اش را درس عبرت دادند، غرور وتکبر وی را بخاک یکسان وحتی که آنرا در وقت اقتدارامارت اسلامی تا به ترکمنستان دوانیدن،ودر این دوراشغال امریکایها نیز کوبیده شده است وتاب مقاومت در برابر مجاهدین را ندارد.

شکست فضاحت بار دوستم گلم جم

مانند سالیان گذشته امسال یکبار دیگرنیز دوستم جنگسالار با بسیار کبر ودبدبه به اصطلاح غرض پاکسازی ویا بازپسگیری ولسوالی ها ومناطق از دست رفته عازم ولایت فاریاب شد



وعملیات گسترده ای را برعلیه مجاهدین آغاز کرد ، که خوشبختانه به کمین وضربات مرکبار مجاهدین برخورد وبشمول چندین قوماندان بلند رتبه وگارد خاص وی دها ملیشه گلم جم کشته واجساد شان درمیدان نبرد ماند،همینگونه وسائط،اسلحه و مهمات هنگفتی غنیمت رادمردان اسلام گردید.

پس از آن که کاروان دوستم به محاصره شدید قطعات خاص وضربتی مجاهدین امارت اسلامی درآمد ونهایت کوبیده ومتقبل تلفات سنگین شد،سروصداها از داخل اداره کابل بلند شد که دوستم را دریابید!و امرالله صالح اعتراف کرد که کاروان حامل جنرال دوستم تحت محاصره وحملات شدید طالبان قرار گرفته است وحتی از وی اطلاعی نیست،ودر شبکه های اجتماعی اخبار کشته شدن آن نیز بنشر رسید.

بلا تردید قوه عملیاتی دوستم کمونیست در اثر حملات تهاجمی وکمر شکن مجاهدین متلاشی،کشته،زخمی ومتباقی فرار وبه کوها متواری شدند.

ملیشه های گلم جم طبق عادت دیرینه خویش غرض اخذ انتقام دست به کشتار مردم ملکی وبی دفاع زدند،و در این جریان دها کودک،خانم ومحاسین سفید را در غورماچ ،قیصار ودیگر مناطق فاریاب شهید،مجروح،همچنان دها باب حویلی مسکونی مردم بیچاره را به آتش کشیدند،اموال ودارای آنها را چور وچپاول نمودند.

شایان ذکر است که دوستم در چهار دهه با کمال وقاحت بالای ملت مظلوم افغان جبر وظلم نموده واز هیچ جنایت در برابر مردم دریغ نکرده است،بلکه این حائن بین المللی نسل کشی نموده است.

اگر شما شنیده باشید در این روزها اکبر بای یکی از بزرگان ترکتباران کشور،بصرحت لهجه بیان داشت که دوستم خود مکرراً اعتراف کرده است که من از موی سر خود بیشتر پشتون ها را کشته ام،واز جنایت نابخشودنی وضد بشری بزرگتر وی در دشت لیلی نیز نامبرد که هزاران تن را پس از تسلیم شدن با بسیار بی رحمی وقساوت لقلب بطور دسته جمعی بشهادت رسانید، این سفاک از هیچ وحشتی بر ملت متدین کشور دریغ نکرده ونمیکند.

دوستم گلم جم ولشکریان جانی وی هرگاهی در برابر سپاه طالبان شکست خورده است ومجالی مقابله با آنها را نداشته ونخواهد داشت،لذا ملت مسلمان ما اعم از جوانان، سالخوردگان، علماء،دانشگاهیان و..... در پهلوی برادران مجاهد ومبارز خود بایستند تا که به یاری پروردیگار وهمکاری ملت ،بساط اشغال،ظلم،غارت،قتل،فساد،فحاشی وهمه نابسامانی های کشور برچیده ویک نظام شرعی که تضمین کننده عدالت،امانت،امنیت ورفاه ملت است حکم فرما گردد.وماذلک علی الله بعزیز

د ديني عالم او د هلاکوخان د لور سوال او ځواب

ژباړه: عبدالمجید جواد

د تاتاریانو له سوبې وروسته د هلاکو خان لور له ځو تنو عسکرو سره په آس سپره د بغداد په بښار کې روانه وه چې د خلکو په یوې ګڼې ګونې باندې یې سترګې ولګیدې،پوښتنه یې وکړه چې دا خلک ولې داسې راټول شوي دي، څه کیسه ده ؟ورته وویل شول : چې دا خلک یوه عالم شخص نه راټول شوي.او د هغه وعظ او نصیحت اوري.د هلاکو خان لور خپلو عسکرو ته وویل چې دا عالم دې زما مخې ته راوړل شي،عسکرو یې امر پر ځای کړ او هغه دیني عالم یې د هغې مخې ته حاضر کړ،تاتاري شهزادګۍ له عالم څخه سوالونه شروع کړل.

شهزادګۍ: آیا تاسو پر الله ایمان لرئ.؟

عالم: هو بلې یقینا مونږ په الله باندې ایمان لرو.

شهزادګۍ : آیا تاسو پر دې خبرې ایمان لرئ چې د الله چې چاته خوښه شي ،هغو ته په نورو غلبه ورکوي.؟

عالم: هو بالکل مونږ پر دې خبره ایمان لرو ،چې د الله چې چاته خوښه شي، هماغه غالب کوي.

شهزادګۍ: نو نن الله مونږ پر تاسو غالب کړي نه یو؟

عالم : هو نن وخت تاسو پر مونږ غالب یاست.

شهزادګۍ: نو دا د دې دلیل نه دی، چې الله ته له تاسو نه مونږ ډیر ګران یو؟

عالم : نه بالکل نه!! دا خبره د دې دلیل نه ده.

شهزادګۍ: ولې؟

عالم: تا کله شپون لیدلی دی؟

شهزادګۍ: هو.

عالم : دا به دې هم لیدلي وي ،چې شپنو یو ځو سپي هم ساتلي وي، چې د رمې تر شا یې روان وي .؟

شهزادګۍ: هو دا مې هم لیدلي.

عالم: ښه نو کله چې یو ځو میږې او وزې له رمې نه بیلې شي، د شپانه نه اوري او په بلې خوا روانې شي نو شپون څه کوي؟

شهزادګۍ: شپون له رمې نه جدا شویو څاروو پسې خپل سپي خوشې کوي، تر څو هغوئ بیرته خپلې رمې ته راوګرځوي.

عالم: شپون دغه سپي تر کومه دغو بې لارو شویو څارووپسې خوشې کړي وي؟

شهزادګۍ: تر هغو پورې تر څو یې چې بیرته راګرځولي نه وي .

عالم: نو تاسو تاتاریان هغه سپي یاست، چې الله جل جلاله مونږ مسلمانانو پسې پریښي یاست،تر څو پورې چې مونږ د الله له لارې کاږه روان یو، د الله حکمونه نه منو، د الله بې اطاعتي کوو،خپل منهج او مسیر باندې نه ځو، تر هغو پورې به تاسو تاتاریان سپي پرمونږ مسلمانانو باندې مسلط یاست.او زمونږ امن ، سکون او ازادي به مونږ باندې حرامه وي.او کله چې مونږ خپلې لارې او مسیر ته بیرته راوګرزیدو.پر خپل دین مو بیرته منګولې ولګولې د الله نافرماني مو پریښوده .نو ستاسو ورځې به ختمې شي ، مونږ به غالب یو او تاسو به مغلوب او زمونږ غلامان به شئ.....

(له نن ټکي اسیا نه په مننه)

د اختلاف شرعي

ضوابط او آداب

مولوي ميرعباس ګوهري

حقيقت دا دی چې الله متعال انسان د کايناتو په منځ کې د ټولو ژوندیو موجوداتو په پرتله داسې یو عزتمند مدنی مخلوق پیداکړی دی ،چې د نورو انسانانوسره ګډ ژوند خوښوي او د یوازې والي او تنهايې نه کرکه او نفرت لري، خو که له یو طرف نه لکه څنګه چې په څرګنده ټول انسانان د ظاهري جوړښت، رنګونو، قومونو، سیمو، عقلونو او علمي کچې په لحاظ یو له بل سره ډېر توپیرونه لري، له بل طرف نه د ده د وجود په داخل کې الله جل جلاله داسې یو فطري صفت او غریزه پیدا کړې، چې پربنیاد یې غواړي همېشه باید دژوند په بهلابهلو برخو کې پر نورو په هرلحاظ پورته والی او اوچتوالی ولري، هېڅ کله نه غواړي چې نور انسانان دې د ژوند په یوه نه په یوه برخه کې پر ده امتیاز ، فوقیت او برتري ولري ،کله چې انساني ټولنه کې هر وګړی د دغه ظاهري توپیرونو او دغه فطري غوښتنې پربنیاد همېشه په نورو د برتری او امتیاز په هڅه کې وي، نو د دې ټولو حتمي او طبیعي نتیجه دا راوځي چې د انسانانو ترمنځ به په ورځني ژوندانه کې له یوبل سره د خپلو مادي او معنوي منافعو پر خوندي کولو او یا لاسته راوړلو ضرور مخالفتونه او فاصلې منځ ته راځي.

اسلام چې یو اجتماعي او ټولنیز دین دی، نه غواړي چې د ټولنې د وګړو ترمنځ دی د یوبل سره د دښمنی، کرکې او نفرت په نتیجه کې بې نظمي، ګډوډي او بې اطمیناني موجوده وي ،نو ځکه خو یې دغو ټولو حقایقو او واقعیتونو ته په کتنه د انسانانو ترمنځ د اختلاف په صورت کې یو لړ داسې بنسټیز اصول، ضوابط او آداب وضع کړي چې له یو طرف نه د انسانانو د دغه فطري صفاتوسره د یو حقیقت او واقعیت پربنیاد تعامل ترسره شي او له بل پلوه نظري اختلاف چې د یوې انساني ټولنې د وګړو لپاره د پرمختګ اساس تشکیلوي داسې اندازې ته ونه رسېږي چې د ژبې او قلم عفت، انساني کرامت ترپښو لاندې شي او د دوی ترمنځ د ورور ګلوی، او یووالي فضاء له منځه لاړه شي . مخکې تر دې چې زه دغه اصول، ضوابط او آداب ذکر کړم د موضوع د لا ښه روښانتیا لپاره غواړم لومړی د اختلاف تعریف او ډولونو ته په لنډه توګه اشاره وکړم:

تعریف:

خلاف او اختلاف دواړه د مصدر صیغې دي او د جمهورو علماوو په وراندې په لغت کې د اتفاق او یووالي ضد او مقابل لوري ته ویل کېږي البته د خلاف

او اختلاف الفاظ عام دي او د ضد لفظ خاص دی پدې معنی چې هر مخالفت ته د بل په مقابل کې ضد نشي ویل کېدای، خو د هر شي ضد ته د بل په مقابل کې مخالفت ویل کېږي د مثال په توګه تور او سپین رنګونه په خپل منځ کې هم یو د بل ضد او هم مخالف ګڼل کېږي خو سور او شنو رنګونو ته بیا یو د بل مخالف ویل کېدای شي خو یو د بل ضد ورته نشی ویل کېدای.

په اصطلاح کې:

خلاف یا اختلاف دېته ویل کېږي چې په ټولنه کې یو تن د بل تن یا یوه ډله د بلې ډلې نه په عمل او یا ویناکې مخالف جهت او جدا لاره غوره کړی یا په لنډ عبارت سره – د قول اوعمل په ډګرکې دیو چا په مقابل کې مخالف لوري نیولو ته اختلاف ویل کېږی.

داختلاف ډولونه:

۱ :اصولي او حقیقی اختلاف:

دا ډول اختلاف په انساني ټولنه کې د یو لړ هغو اسلامي او دیني بنسټیزو عقایدو، ارزښتونو او مسایلو د منلو او نه منلو پر اساس ولاړ دی چې د مسلمان په صفت منل یې ضروري او حتمي دی .

دغه قسم اختلاف ته ځکه حقیقي اختلاف ویل کېږي، چې د دغه دوه ډلو (چې یوه یې پر الله، د آخرت ورځ ، پیغمبرانو، آسماني کتابونو، ملایکو، تقدیر، او له دنیوي ژوند نه وروسته په اخروي ژوند ایمان او باورلري او د هغه په مقتضیاتو عمل کوي او دوهمه ډله بیا د دې ټولونه انکارکوي) ترمنځ داسلام دین سره خطونه ترسیم کړي ،چې هېڅکله نشی کراس کېدی دغه قسم اختلاف اصلا د حق او د باطل ترمنځ د هغه شمولی او دایمي مبارزې او کشمکش نوم دی ،چې د زمکې پرمخ د انسان د پیداکېدو سره سم پیل شوی او ترقیامته به جاري وي اوکله یې هم ترمنځ اتفاق او یووالی ممکن او شونی نه دی البته که کوم ځای کې د یوبل سره د ګوزارې او یو ځای اوسیدو خبره مطرح کېږي هغه به د اسلام د لارښوونو او تعلیماتو په چوکاټ کې تنظیم شوې وي.

د دې دوه ډوله انسانانو او یا دوه ډلو ترمنځ د اختلاف سرو خطونو او لرې واټن ته قرآنکریم داسې اشاره کړې ده:

(لاتجد قوما یؤمنون باالله والیوم الأخریوادون من حاداالله ورسوله الایة)

ژباړه : له سره به داسې قوم پیدا نکړې چې له یو طرف نه پر الله او ورځ د آخرت ایمان او باور لري او د بل طرف نه د الله او د هغه له ښمنانو سره دوستي کوي او باور پرې نلري.

بل ځای کې داسې فرمایې:

(یاایهاالذین امنوا لا تتخذوا آباءکم واخوانکم أولیاء ان استحبوا الکفرعلی الایمان...)

ژباړه : ای مومنانو! دخپلو هغو پلرونو او ورونو سره دوستی مکوئ کومو چې کفر د ایمان په مقابل کې غوره کړی دی.

باید ووایو چې د دې قرآني آیتونو تر ټولو رښتیني او واقعي ممثلین او مصداق صحابه کرام رضی الله عنهم وو چې نه یواځې دا چې د خپلو نږدې خپلوانو سره یې د خپلولی اړیکې پرې کړې وې، بلکې په مختلفو غزواتو کې یې د پلار، ورور ،ماما او داسې نور نږدې خپلوان د کفر او شرک پربنیاد د تورې له تیغ نه هم تېرکړل.

۲ : نظری او جزوی اختلاف:

دغه قسم اختلاف چې زما د لیکنې اصلي موضوع ده ځانګړي طبیعي او غیر طبعي اسباب او وجوهات لری چې په تمامه معنی له منځه وړل یې نه یواځې داچې ناممکن او ناشونی دی بلکې دا کار د انسانی ټولنې د تطور او پرمختګ مخه ډب کوي او د جمود او رکود سره یې مخ کوي ،په الهي کایناتو کې لوی او واړه رنګارنګ اختلافات او تغییرات او د همدې په څېر په پیدایشي لحاظ د انسانانو ترمنځ د رنګ، ژبې، قوم ، سېمې، قد و قامت، عقلي او علمي مستویاتو توپیرونه ددې ښکارندویي کوي چې انسانان به خامخا د نظریاتو په ډګرکې سره متفاوت او مختلف وی، لکه څنګه چې د پورته ذکرشوو تکوینی توپیرونو له منځه وړل په کومه کچه ناشوني دي ،په همدې کچه د نظریاتو اختلاف ختمول هم ناشونی کار دی.

د دغه واقعیت په مثلو او دېته په کتو سره اسلامی شریعت یو لړ داسې شرعي ضوابط او آداب وضع کړی تر څو له یو طرف نه د دغه واقعیت سره سم تعامل ترسره شی او له بل طرف نه دغه تکویني او طبیعي اختلاف د اسلامي ټولنې د وګړو ترمنځ د وروروګلوی او مینې محبت پرځای د نفرتونو، جنجالونو، او له یو بل سره د تفرقې او جدایی باعث ونه ګرځي.

داختلاف ضوابط او آداب:

۱ : د نیت خلوص، ښه ګمان او د هرقسم نفسي خواهشاتونه لرې والی:

د دې اصل او ادب معنی دا ده چې کله یوځوک په اجتهادي، نظري او جزوي قضایاوو او مسایلو کې له چاسره اختلاف کوي، دا باید په بد نیتی او نفسي غوښتنو ولاړ نه وي اختلاف باید د تأویل او توجیه وړ نقلي او عقلي دلایلو پر اساس پداسې توګه بنا وي چې مخالف به پر دې قضیه کې خپل ځان حق ته د رسیدو او مقابل لوري د خطاء کېدو د احتمال تر څنګ د خپلې خطاء او د مقابل لوري حق ته د رسیدو په احتمال باور او یقین لري، ددې سره به په خپل مخالف لوري هېڅ قسم داسې اتهام نه پورې کوي چې ګویا د هغه مخالفت په فاسدو او ناروا اغراضو مبتني دی بلکې داسې نیت به کوي، چې زما د مخالف لوري قصد او اراده د خپل مخالفت نه شاید ځان او یا ټولنې ته د خیرجلبول او د اضرارو مخنیوی وي.

قرآنکریم ،نبوي احادیث او فقهي قواعد هم په مختلفو اسالیبو د ذکرشوي ادب یادونه کړې او په عملي کولو یې ترکېزکړی دی.

الله متعال فرمایي: (اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم)

ژباړه : له ډېرو بې ځایه ګمانونو څخه ځان وساتئ ځکه ځینې بې اساسه ګمانونه ګناه ده.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي:پرمسلمان تر هغه دخیر ګمان کوئ ترڅو چې مو ورځنې ښکاره بدي نه وي لیدلي . د همدې پر څیر بل حدیث کې فرمایي : ترڅو چې د مسلمان عمل او وینا کې تر(۷۰) اویاوو پوری د ښو توجیهاتو احتمال او ځای موجود وي باید پرې حمل او توجیه کړای شي.

په یوه مثل شوې فقهي قاعده کې پدې اړه داسې حکم شوی:

(امور المسلمین محمولة علی السداد والصلاح ما لم یظهرغیره)

ژباړه : د مسلمانانو کارونه ټول ترهغې سم او ښه ګڼل کېږي ،چې ترڅو يې په خرابوالي او عدم صحت ځرګند دليل موجود شوی نه وي.

۲ :د اشخاصو ، مذاهبو ، قومونو سره د تعصب نه ځان ساتل:

د دې عنوان مطلب دا دی چې د چا سره اختلاف به بعينه د هغه د شخصيت، د کوم ځانګړي قوم سره د ترإو، او يا د کوم ځانګړي مذهب د غوره کولو پربنياد نه وي ولاړ بلکې د دې ټولو واقعيتونو له منلوسره به اختلاف يواځې د هغه د نظر او کړنو سره وي، ځکه پدې کې ډېری شيان داسې دي چې انتخاب او عدم انتخاب يې د انسان په وس او توان کې نه دي، په ځانګړې توګه لکه د هغه ظاهري شخصيت او د کومې ځانګړې کورنۍ، ټولنې او قوم سره تړاو درلودل نو د دې شيانو پربنياد له چا سره اختلاف کول د الله جل جلاله د تکويني کارونو سره تصادم او ټکرګڼل کېږي.

۳ : په اختلاف کې د عدل او انصاف نه کاراخيستل:

د اختلاف له آدابو نه بل ادب دا دی چې په اختلاف کې بايد د عدل او انصاف نه کار واخستل شي په دې معنی چې څومره د وينا او عمل په ډګرکې د مخالف لوري د مخالفت کچه وي په همغه اندازه بايد اختلاف ورسره ترسره شی نه دا چې د يو چا د وړوکي او جزوي عمل په مقابل کې د اختلاف کچه هغې اندازې ته ورسېږي چې د هغه د وينا او عمل د کچې نه څوچنده زياته وي

عدل په اسلام کې هغه حکم دی چې د ژوند په ټولو برخو کې د مسلمان نه مطلوب دی آن تر دې چې د خپل دښمن سره به د دښمنۍ په وجه هم د عدل نه انحراف نکوي:

الله متعال فرمايي:

(لا يجرمنكم شنأن قوم على أن لا تعدلوا اعدلوا هو اقرب للتقوى)

ژباړه : د يو قوم سره دې ستاسو دښمني د دې باعث نه شي چې له هغوی سره د عدل نه کار وانخلئ له هر چا سره د عدل معامله کوئ ځکه عدل، تقوی او پرهيزګاری ته نيژدې عمل دی.

۴ : د مخالف د قول او عمل تثبت ،تبين او تحقيق کول:

محض د يو چا د وينا او عمل څخه د خبريدو سره سم به د هغه سره په اختلاف لاس نه پورې کوئ، ترڅو چې د هغه د وينا اوعمل په برخه کې دې تحقيق او تبين نه وي ترسره کړی ځکه ډېری خبرونه داسې خپرېږی چې هېڅ حقيقت نلري او تش افواهات وي.

قرآنکريم يو چا ته د خبر د رسيدو او د هغه سره د تعامل په اړه داسې حکم کوي:

(يا ايهالذين امنوا ان جاكم فاسق بنبأ فتبينوا ان تصيبوا قوما بجهالة فتصبحوا على مافعلتم ناد مين)

ژباړه : ای مومنانوچې کله تاسو ته د فاسق او غير اعتمادي کس کوم خبر او راپور ورسيده نو تاسو يې ښه تحقيق او تبين وکړئ ځکه کله تاسو دا کار ونکړئ کېدای شی چې د مطلق خبر پر اوريدو بدون د تحقيق او تبين نه د چا په خلاف کوم ناوړه اقدام وکړئ او حقيقت به سرچپه ثابت شي نو بيا به په خپلو کړو پښيمانه شي او دا پښيماني بيا ګټه نکوي .

په اسلامی شریعت کې پرته له تبین او تحقیق څخه نه یواځې دا چې د چا په خلاف د ناوړه اقدام تصمیم نیول منع شوی بلکې مطلق د هرې اوریدل شوې خبرې خپرول هم ناروا ګڼل شوی دی.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمایي : (کفی بالمرء کذبا ان یحدث بکل ماسمع)ژباړه : د یو انسان لپاره همدا دروغ بس دې چې بدون د تحقیقه هره اوریدل شوې خبره د نورو په وړاندې بیانوي.

۵ : د اختلاف نقاط تعینول:

د اختلاف د نقاطود تعیین او تحدید نه پرته په مطلقه توګه د یو چا سره د الف نه تر یا پ ورې د اختلاف سنګر نیول د اختلاف د ادب نه لرې او غیر مشروع عمل دی.



په دې اړه قرآنکریم مونږ ته داسې لارښوونه کړې ده:

(قل یا أهل الکتاب تعالوالی کلمة سواء بیننا وبینکم ان لا نعبد الا الله ولانشرك به شیئا)

ژباړه : ای پیغمبره! اهل کتابو ته ووایه چې راځئ هغه خبره راسره ومنئ چې زمونږ او ستاسو تر منځ مشترکه ده چې هغه یواځې د الله بندګي کول او له هغه سره هیڅ قسم شریک نه نیول دي – دې آیت کریمه کې الله جل جلاله خپل پیغمبر ته لارښوونه کړې چې د اهل کتابو سره خپل د اتفاق او اختلاف نقاط تعیین کړه ورته ووایه چې زمونږ او ستاسو د اتفاق نقطه د الله عبادت اوعدم شرک دی او د اختلاف نقطه د دې خبر نه غاړه تاوول دي ځکه بدون د اختلاف د نقطې د تعیین نه د یو چا سره اختلاف کول غیر معقول او عبث کار دی چې هیڅ نتیجه پرې نه مرتبېږی.

٦ :د یو بل سره په ښه توګه خبرې پداسې توګه اړول راړول چې لاندې شیان یکې مراعات کړی شي:

الف : په الفاظو، کلماتو او عباراتو کې ښه تعبیرکارول

د یو چا سره اختلاف په حقیقت کې د دواړو لورو نه حق ته د رسیدنې هغه جدوجهد دی چې که په ښو او زړه پورې تعبیراتو ترسره شي نو دواړو لورو ته به حق ته په رسېدو او د حق په قبلولو کې لاره پرانیزي او که مناسب تعبیر او سمه لهجه و نه کارول شي نوکپه ډای شي مشروع او جایز نظري او جزوي اختلاف په لویه دښمنی او سترو نفرتونو بدل شي.

ب : په خبرو کې آواز دپر نه اوچتول: په ټیټ آوازاو سره سینه د خپل مخالف لوري سره خبره کول هغه څه دي چې انسان دېته اماده کوي چې له خپل مخالف جهت سره د اختلاف سره بیا هم مینه او محبت وساتي او که خبره یې حقه ثابته شي نو په آسانی سره یې ومني.

۷ : د حق د اثبات په صورت کې د مخالف لوري نه د حق قبلولو اراده:

په انساني ټولنه کې چې په جزوي او نظري مسایلو کې اختلاف ته جواز ورکړشوی دی سبب یې دا دی چې هرطرف ته د خپلې وسعې او توان په اندازه خپل کار، ویښا او نظر سم او حق ښکاري ددې خبرې طبیعي غوښتنه دا ده چې د اختلاف دواړه لوري به په زړه کې د حق سره مینه او حق ته د رسېدو کلکه اراده او عزم لري که کله چې هم په قطعي نقلي او یا عقلي دلایلو دا ثابته شي چې یو طرف په خپل اجتهاد او انتخاب کې غلط شوی نو د زړه له کومې باید د مقابل لوري خبره تسلیم کړي.

۸ :د مخالف خبره نه قطع کول:

پکار ده چې د خپل مخالف لوري خبره په سره سینه واوریدل شي د هغه د خبرې د ختمیدو نه وروسته بیا خپله خبره شروع کړي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه مونږ ته د مخالف سره همدا تعامل راپاتې دی لکه چې یوځلې ابوالولید هغه صلی الله علیه وسلم ته د خبرو لپاره راغی نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هغه خبره ښه په غور واوریده او په آخر کې یې ورته وویل : ابوالولیده آیا ستا خبرې خلاصې شوې؟ او بیایې ورته خپله خبره وکړه.

۹ :د ضرورت پر مهال د فکر کولو لپاره وخت ورکول.

که مخالف لوری سمدستي ځواب او بحث ته تیار نه وي نو په هغه باید کړی دومره تنګه نشي چې یا ورنه په فوري توګه ځواب وغواړي او یا پرې خپل حقانیت او د هغه ملامتی منل ثابت کړي.

۱۰ :بې ځایه جدال او مناقشه نه اوږدول

د مخالف لوري سره بحث او مناقشه تر هغه پکار ده چې تر څو په بحث او مناقشه کې د مثبتې نتیجې د مرتب کېدو هیله موجوده وي چې کله خبره د محض جدال او بې ځایه جر و بحث خواته روانه شوه باید پرېښودل شي.

۱۱ :خپل او د مخالف اصطلاحات په دقیقه توګه پېژندل او تعریفول:

دا کارځکه ضرور دی چې کله ناکله داسې کېږي چې په یو شي کې حقیقی اختلاف هېڅ وجود نلري بلکې د دواړو لورو تر منځ پرې اتفاق وي خو البته په ظاهري لحاظ د دوی د مصطلحاتو اختلاف هسې د لفظي نزاع او اختلاف باعث ګرځیدلی وي.

۱۲ :د مخالف په اړه نه مأیوسه کیدل

که چېرې د یو طرف حقانیت په منل شوو عقلي او نقلي دلایلو ثابت وي خو بیا یې هم مقابل طرف نه مني نو دی به بالکل د هغه د حق د نه منلو نه خپل امید نه قطع کوي کېدای شي چې یو نه یو وخت د هغه سینه الله د حق منلو ته خلاصه کړي.

۱۴ :د مخالف سره خپله مینه او ورور ګلوي ساتل:

د چا سره د نظراختلاف باید اسلامي ورور ګلوي، د هغه سره مینې محبت ته صدمه ونه رسوي، بلکې د دې نظري اختلاف سره سره باید هغه خپل مسلمان ورور وګڼي او د مسلمان په صفت باید ورسره مینه محبت وساتي.

جنګي جنايتونه (اکتوبر)

سید سعید

د روان(۲۰۱۶) کال د اکتوبردمیاشتي په لومړۍ نیټه د لوګر ولایت د څرخولسوالۍ په مربوطاتو کي ځایې عسکرو دهس توګني پر سیمه ډزي کړي،په دې ډزوکي دکور د څښتن په ګډون یوه ښځه او دوې ماشومانې شهیدانې شوي دي.

داکتوبر په لومړۍ نیټه د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ په شش کلاسیمه کي دداخلي عسکرودهاوان په بریدونو کي یوه ماشومه شهیده شوې او یوه میرمن ژوبله شوې ده.

د اکتوبر په ۲مه دلوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ په مربوطاتو کي دځایې عسکرو د ثقیله وسلو په ډزوکي څلور تنه ملکي هیوادوال شهیدان شو ي دي.

داکتوبر په ۵مه په ټولنیزو رسنیو کي یوه ویډیو خپره شوه، په ویډیو کي ولسي خلګ په داسي حال کي ښکاري چي زخمیان انتقالوي،دوی وایې چي همدا د کندز ښار باغ شرکت سیمه ده او په همدې سیمه کي دحکومتي چورلکو په ډزوکي شل تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۵مه د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ په سنګرسرای سیمه کي اشغالګرو دکورنیو عسکرو په ملتیا دخلګو په کورونو چاپې وهلي،دروازې یېپه بمونو الوزولي،شتمنۍ یې لوټ کړي،څلور تنه ولسي- وګړي یې چي ټول سره ورونه وو، شهیدان کړي او ګڼ نور ولسي- وګړ یېې بندیان کړ ي دي.

داکتوبر په ۸مه د غزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ د موسی خیلو په کلي کي د د اخلي عسکرو د توپچي په ډزوکي یو ملکي وګړی شهید شوی او پنځه تنه ژوبل شو ي دي.

داکتوبر په ۱۲مه د میدان وردګ ولایت په جلګې ولسوالۍ کي کورنیو عسکرو د ملکي شفاخاني په امبولانس موټر ډزي کړي،په دې ډزوکي یوه ښځه شهیده شوې او دامبولانس دچلونکي په ګډون درې تنه ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۱۲مه دسرپل ولایت د مرکز اړوند د امام خورد پهسیمه کي اربکیانو دخپل وژل شوي قوماندان په غچ کي یو ملکي وګړی اویو۱۲ کلن ماشوم شهیدان کړ ي دي.

د اکتوبر په ۱۶مه د پکتیاولایت د زرمتولسوالی په مموزو سیمه کي اشغالګرو عسکرو چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولي،بیا یې تلاشي کړي او په اخر کي یې پنځه تنه ولسي وګړي د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د اکتوبر په ۱۶مه د کاپیساولایت د نجراب ولسوالی په افغانیه سیمه کي داخلي عسکرو د ملکي خلکو د سپرلی په یو موټرډزي کړي،موټر چلونکی شهید شوی او درې تنه سپرلی زخمیان شوي دي.

د اکتوبر په ۱۷مه د خوست ولایت د موسی خیلو ولسوالی په بلي خیلوسیمه کي کورنیو عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې،خلګ یې وهلي،له کورونو څخه یې قیمتي شیان وړي،یو تن ملکي وګړی یې شهید کړی او دوه تنه یې بندیان کړي دي.

داکتوبر په ۱۹مه داسي راپورونه خپاره شول چي دفاریاب ولایت د چهلګزي ولسوالی په کنجک او کاریز سیمو کي د جنرال دوستم په مشري ملیشو د بې دفاع خلګو پنځوس کورونه لومړی چو رکړي او بیا یې سوځولي دي.

داکتوبرپه۲۰مه د پکتیا ولایت دځاځي اریوب ولسوالی،په زوکي کلي کي اربکیانو دملکي خلکو په کورونو دچاپې په مهال اته تنه ولسي- وګړي بندیان کړیدي.

داکتوبر په ۲۰مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالی د کال کلا په سیمه کي داخلیعسکرو دوه تنه عام کلیوال(نبي جان او حبیب) خپلي قرارګاه ته بیولي او هلته یې یو تن شهید کړی اوبل یې شکنجه کړی دی.

د اکتوبر په ۲۰مه دهلمند ولایت مرکز لشکرګاه اړوند د باباجي دتوغي په سیمه کې یرغلګرو د داخلي عسکر په ملاتړ چاپه وهلې،درې تنه ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

د اکتوبر په ۲۱مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالی په ولي کلا او سیدانو کلیو باندي د داخلي عسکرو د هاوانونو په بریدنو کي اووه تنه ولسي وګړي د ښځو او ماشومانو په ګډون ژوبل شو ي دي.

داکتوبر په ۲۲مه د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالی په پچیر کلي کي د یرغلګرو په ډرون حمله کي ملک مسعود او څلور تنه نور ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۴مه دفاریاب ولایت د گرزیوان ولسوالۍ په غلبیان سیمه کې اربکیانویوه کور ته لاسي بمونه ور غورځولي، یوه میرمن پکې شهیده شوې او دوه ماشومان زخمیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۶مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په بندکلي کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دعبدالرحمن اخندزاده په کور کې دوې میرمنې شهیدانې شوې او درې تنه ټپیان شو ي دي.

د اکتوبر په ۲۷مه یرغلګرو ځواکونو دشپنیو عملیاتو په لړ کې دننګرهار ولایت د شیرزاد ولسوالۍ د مرکښخیلوپه سیمه کې چاپه وهلې،د چاپې پر مهال د یرغلګرو او طالبانو ترمنځ نښته رامنځته شوې، وروسته اشغالګرو پرسیمه بمبار کړی،د ځایې خلګو په

وینا په بمبار کې دیرش تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۸مه رسنیو خبر ورکړ چې دغزني د قره باغ ولسوالي امنیه قومندان پاسوال روح الله د سلطان محمود غزنویلیسې د یوولسم او دولسم ټولګیو دوه زده کوونکي(حمیدالله او فدا محمد) شهیدان کړي دي. ځایې خلګو رسنیو ته ویلي چې دواړه زده کونکي لومړی پولیسو تښتولي ،ترشکنجه کولو وروسته یې شهیدان کړي او تر یوه پل لاندې یې غورځولي وو.

داکتوبر په ۳۰مه دفراهولایتد پشترودولسوالیدمسوپهسیمهکې داخلي عسکرو دچاپې پرمهال لس تنه ولسي هیوادوال چې سپین ږیري هم پکې شامل دي بندیان کړ یدي.

داکتوبر په ۳۰مه دارزګاندمرکزترینکوټ مربوط په درویشانوسیمهکید یرغلګرو په بمبار کې پنځه دیرش تنه ملکي هیوادوال د ماشومانو اوسپین ږیرو په ګډون شهیدان شو ي دي،یاده شوې فاجعه داسي مهال رامنځته شوې چې په درویشان کې د قرارګاه ټول عسکر دخپلو تجهیزاتو سره طالبانو ته تسلیم شول،ولسي وګړي چې همدغې قرارګاه ته د عسکرو تر تخلیه کولو وروسته ورغلل، د اشغالګرو الوتکو د قرارګاه په منځ او شاوخوا کې په نښه کړل او دهمدغه غمیزه پیښه شوه.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

سلطان عبدالحميد الثاني

يا د عثماني خلافت ځلانده ستوري !

ق نذير حکيمي

سلطان عبدالحميد الثاني دعثماني خلافت هغه ځلانده ستوری وو، چې دژوند تر آخرنۍ سلګۍ پورې يې دصبر ، استقامت ، شجاعت ، شهامت او اتلولۍ داسې سپيڅلي منارونه جوړ کړي ، چې داسلامي تاريخ زرين باب ته يې ښکلا او زينت وربښلی ـ

اسلامي تاريخ د(سلطان عبد الحميد) په باب داسې يادونه کړی:

کله چې غرب او اروپاييانو عثماني خلافت داقتصادي لحاظه کمزوری کړ ، نو ديهوديانو يو وفد سلطان عبد الحميد ته راغی ، سلطان عبد الحميد ته يې وويل ، مونږ ته دفلسطين خاوره وسپاره، ترڅو پرې يهوديان آباد کړو ، مونږ به دفلسطين په بدل کی تاسو ته سره اوسپين زر ، او د عثماني خلافت څخه ټول قرضونه او پورونه پورته کړو !

سلطان عبد الحميد موسکی شو ، يهوديانو فکر وکړ، چې سلطان ته زمونږ خبره په زړه پوری وه ، سلطان له لږ ځنډ وروسته دخپلې پڼې لاندې لاس راکش کړ ، او ديهودو مشرانو ته يې په دردناکه او هيبتي غږ خطاب وکړ ((زما دی قسم دفلسطين په مبارکه خاوره وي ، که تاسې زما څخه دپڼې دغه يوه ذره خاوره چې دفلسطين په ځمکه ګرځيدلي يم وغواړئ ، دارويا او غرب ټول سره او سپين زر ، لعل او جواهر زما په پښو کی انبار کړئ ، هيڅکله به ستاسو دغه آرمان پوره نشي ـــــ يهوديان په ډيره مايوسۍ او شرمناکه توګه دسلطان لخوا څخه پاڅيدل ، او دهغې ورځې څخه وروسته يې په مسلمانانو کې دتعصب کرغيړن مرض خپور کړ ، او په ډيره کمه اوږه موده کې يې هاغه عثماني خلافت چې اته سوه کاله يې خپل برم او شوکت ثابت کړی وو ، د زوال سره مخامخ کړ ـ او همدا کرکجن او کرغيړن تعصب دعثماني خلافت دتوتې کيدو باعث شو!!!

شهیدي قافلې

(عاکف مهاجر)

د بابوس اکل شهید مولوي امرالله رهبر ژوند لیک ته لنډه کتنه!

پیدایښت او زده کړې:

شهید محترم مولوي امرالله رهبر د عبداللطیف ځوی د لوګر ولایت د مرکز اروند بابوس سیمې اوسیدونکی و، چې په ۱۳۵۷ لمریز کال کې یې په یوه دینداره کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې غړولې وې.

نومورې چې د درس ویلو جوګه شو ،نو په دیني زده کړو یې پیل وکړ چې لومړنۍ زده کړې یې د خپل کلي له ملا امام ځخه ترسره کړې او بیا د لوګر ولایت جامعۀ (عمري) ته ولاړ. هلته د لومړنیو درجو له لوستلو وروسته د جلال اباد نجم المدارس، وروسته د کابل مشهورې مدرسې جامعه فاروقیې او همدارنګه یې د ګاونډي هیواد پاکستان په مختلفو مدرسو کې زده کړې وکړې ،چې بالاخره د مبارکو احادیثو دورې او دستار فضیلت په موخه د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه مدرسې ته ولاړ او هلته یې لویه دوره د سیمې له مشهور شیخ الحدیث مولوي عبدالغني صاحب څخه ولوسته، خو له بده مرغه چې د درس په اخري میاشتو کې اسیر شو او د دستاربندي د مراسمو شپې او ورځې یې په زندان کې تیرې کړې.

د طالبانو په تحریک کې ونډه:

په ۱۳۷۳لمریز کال کې کله چې د طالبانو سپېڅلی تحریک راڅرګند شو نو په لومړنیو کلونو کې شهید (رهبر) د کم عمر ځښتن و، خو چې کله یې د ځوانۍ بن زرغون شو نو رهبر شهید له علمي زده کړو او مصروفیتونو سره سره د شر او فساد په حلاف مبارزې کې ونډه واخیسته چې د هیواد په مختلفو ولایتونو کې یې خدمت ترسره کړ او تر هغې پورې په دغه مبارزه کې مصروف و چې تحریک د نړیوالو صلیبي اشغالګرو د اشر په نتیجه کې ونړېد.

د امریکایانو په خلاف جهاد:

کله چې صلیبیانو د خپل کفري نظام او الحاد د پلي کولو په موخه په ګران هیواد یرغل راوړ؛ نو نومورې له خپلو مخلصو ملګرو سره د جهاد په لومړي صف کې په پوره مړانۍ سره ودرېد ،ان تردې چې خپل کور یې د مجاهدینو لپاره د مرکز په توګه کاراوه، له همدې امله به یې په کور هر وخت د تلاشۍ او چاپو بهیر روان وو.

نومورې یو څه موده وروسته د مجاهدینو د سالار او قومندان په توګه راڅرګند شو، رهبر شهید چې د لوړو اخلاقو، نرمې لهجې، وړین تندي او

نبوي سيرت او صورت څښتن و؛ له همدې امله ملګرو ورسره بې کچې مینه درلوده، همدا لامل و چې ملګري يې هم مخلص، زړور او د پوره اطاعت درلودونکي وو، چې په لنډه موده کې د خپلو تونډو عملياتو په نتيجه کې امريکايانو او اجيرانو ته مطلوب شو او هر وخت به ډارن دښمن ورڅخه په وېره کې و.

د يادونې وړ ده چې رهبر شهيد د دغه ايثار او قربانۍ په سلسله کې د خپل اسارت په دوران کې خپل ځای ناستی ګران او محترم ورور ديني عالم مولوي صاحب کريم الله کامران چې د يرغلګرو په خلاف يې د خپل اسير ورور لاره تعقيب او په دښمن يې تندريز عمليات ترسره کول چې بالاخره د وحشي امريکايانو لخوا په يوه چاپه کې په شهادت ورسېد چې له شهادت او تدفين وروسته يې په کرامت ټول لوګر شاهد و.

د شهيد رهبر بندي کېدل:

د لويې دورې له اختتام څخه شاوخوا يوه مياشت وړاندې د ۱۳۸۷ لمريز کال د حمل د مياشتې په ۱۴ نېټه نومورى د ثمر خپلو په پاتک جلال اباد کې د اجيرو غلامانو لخوا ونيول شو، درې کاله يې په زندان کې تېر کړل، ګڼ تکاليف يې وګالل او تر آخره پورې په خپل عزم کلک ولاړ و، چې بالاخره د حوت د مياشتې په ۲۸مه نېټه د ۱۳۹۰ هـ ش کال له زندان څخه آزاد شو.

شهادت:

نومورې له اسارت څخه وروسته خپله دنده پيل کړه او مقدس جهاد ته يې ادامه ورکړه چې مبارزه يې نوره هم ګرندۍ شوه، امريکايانو هڅه کوله چې نومورى اسير کړي.

په ۲۰۱۴ م کال کې له دېرو چاپو سره سره څو واره د بې پيلوټه الوتکو د ناترسه بريدونو لاندې راغې خو روغ رمټ به تر ېنه ووت او په الهي نصرت سره به وژغورل شو .

خو بالاخره په ۲۰۱۴ م کال د اګست مياشتې په ۲۵مه نېټه د صليبيانو لخوا د بې پيلوټه الوتکې په يوه ناڅوانمردانه برید کې له خپل يو ملګري صالح محمد کاروان سره يو ځای شهيد شو.

روح دې شاد او ياد دې تل وي.

فمنهم من قضى نحبه و منهم من ينتظر. الاية

د شهيد امرالله رهبر دردونکی شهادت د دوی د کورنۍ او ملګرو لپاره يې څه نوې خبره نه وه، بلکې د نومورې يو مشر ورور (عبدالحی سيف الله) د روسانو په خلاف په سپېڅلې جهادي مبارزې کې د شهادت لوړ مقام ته رسيدلی، او بل کشر ورور يې مولوي کريم الله کامران چې پورته يې هم يادونه شوې د وحشي صليبي يرغلګرو په وحشيانه چاپه کې په شهادت رسېدلی . ان شاءالله په راتلونکي کې به يې د ژوند او کارنامو سوانح نشر کړو.

هغه سړی چې الله تعالی په ماشي عذاب ورکړ!

شاکر معموزی

ابن جرير وايي له ختيځ څخه نيولې تر لويديځ پورې دټولې ځمکې واکمنان ځلور تنه تيرشوي دي چې دوه يې مؤمنان او دوه کافران و.

هغه دوه تنه چې مؤمنان و يو سليمان د داوود عليه السلام زوی او بل ذوالقرنين و.

او کافران يو نمرود او بل بختنصر و چې له دغو ځلور تنو څخه پرته بل چا په ټوله نړۍ واکمني نه ده کړې.

ستر طاغوت او کبرجن نمرود د الوهيت او خدايي دعوه کړې وه او ويل به يې)زه وژل او ژوندي کول کوم) چاته چې مې خوښه شي وژنم يې او چاته مې چې خوښه شي ژوندی يې ايله کوم.

زيد بن اسلم وايي د ځمکې پر مخ اولنی سرکښ نمرود و.

خلکو به دده په مخ کې خوراکونه خوښول او بيا به يې خوړل يوه ورځ ابراهيم عليه السلام هم له خلکو سره ددوی په ډول ورغی چې خوراک خوښ کړي ، خو نمرود به په دې خلکو تېرېده او پوښتنه به يې ځينې کوله چې ستاسو رب څوک دی؟

هغوئ به ورته ويل ته يې. (العياذ بالله)

کله چې ابراهيم عليه السلام ته راورسېده پوښتنه يې ځينې وکړه ستا رب څوک دی؟

ابراهيم عليه السلام ورته وويل : زما رب او ځښتن هغه څوک دی چې ژوندي کول او مړه کول کوي (مرګ او ژوند دده په اختيار کې دی)

نمرود ورغبرګه کړه زه هم مړه کول او ژوندي کول کوم.

ابراهيم عليه السلام ورته وويل : الله تعالی لمر له ختيځ څخه را خېژوي ته يې له لوېديځ څخه را وخېژوه!!

د الله د نعمتونوناشکره (نمرود) بې ځوابه شو ، ابراهيم عليه السلام يې له خوراک څخه منع او وګرځاوه.

ابـراهيم عليـه السـلام د کور لوري ته راستون شو، په لار کې يې د شګې يـو تـوپی ولیـده او لـه څـان سره يـې وويل : ښه نـه ده چـې لـه دې شـګئ څخـه څـه پنـډ کـړم او کورتـه ورشـم ،ترڅـو مـې د کورنۍ زړونه خو شـحال شي (ناهيلي نه شی او ووايي چې څه يې راوړل)

شګه يې پر اوږو راوړه کور ته ننوت پـر څمکـه يـې کښوده او ويده شو.

مېرمنـــې يـــې پنـــډ پرانيسـت،ګوري چـې د ډبـرو ښو او غورو خوراکونو توکي پکې دي ، له هغو توکو څخـه يې رنګارنـګ ښـکلي خـواړه تيار او ابراهيم عليه السلام ته ورمخکې کړل.

ابراهيم عليه السلام چې کله دا خواړه وليدل مېرمنې ته يې وويـل : دا دې له کومه کړل؟

مېرمنې يې ورته وويل دا مې له هغو توکو تيار کړل چې تا راوړي و.

ابراهيم عليه السلام وپوهېده ،چې د الله له لوري ورکـړل شـوي روزي ده، نو د الله تعالی شکر يې وکړ.

خو سر کښ نمرود ته الله تعالی يـوه ملايکـه راوسـتوله ،چـې پـه الله تعالی ايمان راوړه او نور دې خپله پاچاهي او واکمني کوه ، نمرود ونـه منلـه او ورته ويې ويل : ايا له ماپرته بل رب (څښتن) هم شته ؟

دوهمه ملايکه او بيا دريمه ملايکه الله ورته راولېږلې خـو نمـرود پـه الله تعالی د ايمان راوړلو خبره ونه منله ، ملايکې ورته وويـل : خپلـې ټـولې ډلې او خواکونه دې په دريو ورځو کې را يو ځای کـړه نمـرود خپلـې ټـولې ډلې او لښکرې سره رايوځای کړې ، الله تعـالی د ماشـو يـوه دروازه پـرې را پرانسته ،دومره ډېر ماشي پرې را توی شول، چې غوښې يې ورځخه وخوړې ، وينې يې وزېښلې تش هډوکي پاتې شول او له نمرود نه پرته نور ټول مړه شول اونمرود ته يې هيڅ ونه ويـل، خـو الله تعـالی دې سرکښ کـافر تـه يـو ماشی راواستاوه، چې لومړی يې پر پـوزه او بيـا يـې دمـاغو تـه ننـوت ،تـر (۴۰۰) کلونو پورې دا سرکښ داسې ژوندی و ،چې په څټکونو او څپليو بـه يې خپل سر واهه، تر څو هغه دده په سر کې دننه ماشی يو څه کرار شي..

پاتې دې نه وي چې نمرود (۴۰۰) کاله پاچاهي او واکمني کـړې وه او (۴۰۰)کاله بيا الله تعالی په دنيا کې په شرمونکي عذاب اخته کړ ، دا د هغه چا جزا وه چې د الوهيت (خدايي) دعوه يې کړې وه، نو الله تعالی په يـوه وړه خزنده داسې عذاب ور کړ.. اعاذنالله من حاله

ژباړنه: م. حمد الله (دانشمند)

د ابوذر(الغفاري) رضی الله عنه وفات

نوموتی صحابي"ابوذر الغفاري"- رضی الله عنه- چې په محامي الفقراء(د نادارو غمخوار) سره شهرت لري په "ربذة" سیمه کې د خپلې بي بي او یوې مریی سره اوسېده. بي بي یې د بیماری پر مهال سر ته ناسته وه ژړل یې.

نوموړي- رضي الله عنه- ورته کړه: څه دي، ولي ژاړې؟

هغې ورته کړه: ولي به نه ژاړم؛ ته په یوه لرې پرته سیمه کې اوسېږې؛ کور کې دومره ټوکر نشته چې ستا کفن یې کړم؛ په یواځې سر به ستا څنګه پالنه وکړم.

هغه مبارک ورته وویل: کله مې چې د اجل داعی ته لبیک ووایه، ته او مریی راته غسل راکړئ، کفن راکړئ، د لارې په څنګ کې مې کېږدئ، لومړی بهیر چې په تاسو تېرېږي، ورته ووایاست: دا "ابوذر" دی!

کله چې له دې ورانې نړۍ وکوچېد؛ هغوی همداسې وکړل.

"عبد الله بن مسعود"- رضي الله عنه- د یو ټولي په ملتیا- چې له کوفې سره یې تړاو لاره- په همدې لاره تېرېده، په یاده جنازه یې سترګې ولګېدې، پوښتنه یې وکړه؛ دا دچا ده؟!

چا ورته وویل: دا د "ابوذر" جنازه ده!

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه پر مخ د ټرمو اوښکو سیلاب راغی؛ ویې ویل: د الله پاک رسول رښتیا ویل:

((یرحم الله أبا ذر، یمشی وحده، ویموت وحده، ویبعث وحده)).

ژباړه: په ابوذر دي الله رحم وکړي؛ یواځې خي، یواځې به مري او یواځې به را پاڅي.

نوموړي مبارک یې جنازه وکړه او په خپله یې دفن کړ. سنه [۳۱/ ۳۲هـ].

"طبقات ابن سعد"

چرا این همه مردم باهم اینگونه اختلافات می ورزند؟

ترجمه: إسحاق دبیری

در زمانها و مکانهای مختلف در میان مردم اختلاف وجود داشته است. اختلاف روش و سنت الهی در میان مردم است. آنان از نظر رنگ، زبان، سرشت، فهم، معارف و عقلهایشان با یکدیگر متفاوتند.

همة این امور یکی از نشانه‌های خداوند است که قرآن کریم به آن اشاره کرده است: وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ [الروم: ۲۲» .[از جمله نشانه‌های [دال بر قدرت و عظمت] پروردگار، آفرینش آسمانها و مختلف بودن زبانها و رنگهای شماست. بی‌تردید در این]آفرینش ستارگان فراوان جهان که با نظم و نظام شگفت‌آور گردانند، در این گوناگونی آفرینش] برای فرزانگان و دانشوران نشانه‌هایی وجود دارد.«

این اختلاف در ظاهر، دلیل بر وجود اختلاف در آرا، دیدگاه و افکار است. قرآن کریم در چند آیه به این امر اشاره دارد.

برای نمونه آیه زیر: چرا این همه مردم با هم اینگونه اختلافات می ورزند؟_ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ]هود: ۱۱۸-۱۱۹.[

]»ای پیغمبری که بر ایمان آوردن قوم خود آزمند و بر روی گردانی آنها از دعوت آسمانی متأسف هستی! بدان که] اگر پروردگارت می‌خواست مردم را [همچون فرشتگان در یک مسیر و بر یک برنامه قرار می‌داد و] ملت واحدی می‌کرد.

]و پیرو آیین یگانه‌ای می‌نمود و آنان در مادیات و معنویات و در انتخاب راه حق یا راه باطل اختیار و اخلاقی نمی‌داشتند.

آن وقت جهان به گونه دیگری در می‌آمد] ولی [خداوند مردمان را مختار و با اراده آفریده و] آنان همیشه »در همه چیز، حتی در گزینش دین و اصول عقائد آن» متفاوت خواهند بود.

]مردمان براساس اختلاف استعدادشان در همه چیز حتی در دینی که خدا برای آنان فرستاده است، متفاوت می‌مانند] مگر کسانی که خدا بدیشان رحم کرده باشد او در پرتو لطف او بر احکام قطعی الدلاله کتاب خدا متفق بوده هر چند در فهم معنی ظنی الدلاله آن که منوط به اجتهاد است. اختلاف داشته باشند[.

و خداوند برای همین [اختلاف و تحقق اراده و رحمت] ایشان را آفریده است.«

فخر رازی می‌گوید: «مقصود این آیه اختلاف مردم در دین، اخلاق و افعال است.«

این آیه بیان می‌کند که اگر خداوند می‌خواست [می‌توانست] بندگان را براساس غریزه و فطرت دارای دین واحدی قرار بدهد، به گونه‌ای که [در انتخاب آن] هیچ رأی و اختیاری نداشته باشند .... بنابراین، این مخلوق بشر- نامیده نمی‌شدند بلکه در رفتار اجتماعی مانند زنبور عسل یا مورچه می‌بودند و روحشان همانند فرشتگان می‌بود و براساس فطرت به حق و اطاعت معتقد می‌بودند.

در آنچه خداوند بدانها امر می‌کرد، نافرمانی نمی‌کردند و آنچه را که بدان دستور داد. می‌شدند، انجام می‌دادند.

هیچ اختلاف و نزاعی میان آنها به وجود نمی‌آمد. اما خداوند براساس حکمت خود آنها را به گونه‌ای خلق کرده است که علم را کسب کنند، نه اینکه به آنها الهام شود.

همچنین براساس اختیار عمل نمایند و بعضی از امور ممکن مغایر با گروه دیگر را ترجیح دهند، نه اینکه مجبور و بی‌اختیار باشند. همچنین آنها را از نظر استعداد، کسب علم و میزان اختیار متفاوت قرار داده است.

لازم است بدانید که در آیه »ولذلك خلقهم» لام برای غایت و هدف نیست. یعنی قصد آن نیست که خداوند - سبحانه - آنها را آفریده است تا اختلاف داشته باشند. زیرا چنانچه بر همگان واضح است خداوند آنها را برای عبادت و اطاعت از خودش آفریده است. در اینجا لام برای عاقبت و انجام شدن است.

یعنی برای نتیجه اختلاف آنها را خلق کرده است که عبادت از تبدیل شدن آنان به دو گروه است: گروهی در بهشت، و گروه دیگر در آتش سوزان جهنم.

گاهی این لام را لام تعلیل می‌دانند. یعنی آنها را آفریده است تا هر کدام از آنها برای کار و عملی آماده شود، و براساس سرشت خود از میان اموری که جهان به وسیلهٔ آن اداره و هموار می‌شود و امور زندگی به وسیلهٔ آن سامان می‌یابد، کار و پیشه‌ای انتخاب کنند. پس مردم محمل‌هایی برای امر خداوند هستند و بعضی از آنان گروه دیگر را مسخره می‌کنند.

خداوند آنها را در علوم، معارف، اندیشه، احساسات و همه اعمالی که از اختیارشان در اعمال ناشی می‌شود، از جمله ایمان، اطاعت و معصیت دارای قابلیت اختلاف و تفرقه آفریده است.( )

از کتاب: "اصول و آداب گفتگو در اسلام"
تألیف: صالح بن حُمَیْد

د عبرتونو پر لـور،
د مظلوم ښپرا وهلی !!

د دکتور محمد عبدالرحمن العریفی
ژباړن: عبدالباري جمال

زما یو ملګری دی، چې ډېر نیک او متقي دی او هغه ته څه خلك د دم لپاره هم راځي. هغه راتـه یوه ورځ وویل:

یوه ورځ یو غټ او مشهور تاجر راغی او راتـه یې وویل چې: په چپ لاس باندې مـې سـخت درد دی، زه هیڅ نه پوهیږم چې څه سبب یـې دی ډېـرو ډاکټرانـو او روغتونونـو تـه لاړم ، د معـاینو ټـولې نتیجې پاکې دي هیڅ نه پوهیږم چې ولـې؟ کـېدای شي چې د نطره شوی یم او اوس دا دی نانه راعلم ،چې دم مې کړي.

ما هغه دم کړ او دعا مې ورته وکړه.

هغه په دویمه ورځ راغی مادم کړ، په دریمه او په څلورمه هم راغی، تردې چې د هغه راتګ ډېـر شو، ورځ په ورځ به د هغه د لاس درد ډېرېـده. آخـر ما ورته وویل:

کېدای شي ستا دا درد د کوم مظلوم د ښـپرا له امله وي، چې تا ورسره ظلم کړی وي. د غصې نه د هغه رنګ بدل شو راتـه یې وویل:

آیا زه ظالم یم، زه ظالم یم. تـه مـا د خپـل ځانه ښه نه پېژنې. زه غلی شوم او د هغه نـه مـې بښنه وغوښته. هغه لاړ.

هماغه تجار لس ورځې وروسته په داسې حال کې راغی ،چې روغ او جوړ و. هغه کوښښ وکړ، چې زما سر چپ کړي، بیا یې راته وویل:

ته زما د شفاء سـبب یـې. ماتریـنه پوښـتنه وکړه هغه څنګه؟

هغه وویل: په هغه ورځ چې زه ستا د کور نه ووتلم زما د لاس درد په ډېرېدو شو، خو ستا خـبرې زما په غوږونو کې انګـازې کـولې. هـوا ستـا خـبره رښتیا وه، ما په یوه کس ظلم کړی و. زما پـه یـاد شول، کله چې ما خپل قصر جوړاوه، زمـا د ځمکـې سره څنګ کې دهغه ځمکـه وه، مـا غوښتـل چـې هغه واخلم، خو هغه ځمکه دیوې کونډې ملکیـت و، ما هغوئ ته ځواب ورولېږه ،چې دا ځمکه په ما خرڅه کړه. هغې کونډې وویـل: چـې ځمکـه خرڅـه کړم، بیا به په پیسو څه وکړم،هغې ویل: دا ځمکه زه خپلو بچیو ته پرېږدم، کله چـې هغـوئ ځوانـان شول، بیا یې خوښه ده چې څه پرې کوي.

ما ډېر کوښښ وکړ، چې هغه قانع کړم، خو هغې انکار وکړ، حال دا چې دې ځمکې ماته ډېر اهمیت درلود.

زما ملګری وایي ، ما د هغه تجار نه پوښتنه وکړه: بیا دې څه وکړل؟.

تجار راته وویل: ما خپلې خاصې طریقې استعمال کړې. ما د خپل حیثیت نه ګټه واخیسته او لوی لوی خلک مې په دې وګمارل. ما ورته وویل: د هغې کونډې او یتیمانو څه وشول؟

هغه راته وویل: چې هغوئ خبر شول، هغوئ به ځمکې ته راغلل، چې مزدوران به یې ولیدل، نو هغوئ ته به یې سپکې سپورې کولې او ژړل به یې. مزدورانو دا سوچ کاوه، چې هغوئ لیونې دي. زما په یاد شي، چې هغې به خپل لاسونه دعا ته پورته کړل او په داسې حال کې به یې ښپړا کولې، چې اوښکې به یې له سترګو روانې وې او بیا دغسې زما په لاس درد ولګیده ،چې نه مې د شپې خوب و او نه مې د ورځې ارام درلود.

ما ورته وویل: بیا دې څه وکړل؟

هغه راته وویل: زه هغې ته ورغلم او بښنه مې ترینه وغوښتله، تردې چې زه ورته په ژړا شوم او د هغې په بدل کې مې ورته په بل ځای د هغې ځمکې نه ښه ځمکه ورکړه.

کله چې د هغې ښځې د معاملې نه وزګار شوم ،الله جل جلاله ته مې رجوع وکړه، تردې چې د لاس درد مې کرار په کرار آرام شو او اوس دادی الحمدلله. بیخي ښه دی.

د دې کیسې د لیکلو نه هېڅ وخت زما دا مطلب نه دی، چې مرضونه د ګناهونو له امله وي. انبیاء او صالحین خو هم ناجوړه شوي دي. د دې قیصې نه زما غرض دادی، چې د مرض له امله الله جل جلاله د بنده کبر، غرور او فخر ماتوي، کله چې یو کس چې هغه هر وخت ارام، خوشحاله او آسوده وي، نو په اخر کې بیا هغه سرکشه شي او خپل اولنی وخت او انجام هیر کړی.

الله جل جلاله هغوی د دې لپاره ناروغه کوي او غمونه پرې راولي ترڅو په دې پوه شي چې هغه هېڅ هم نه دی.

کله ناکله داسې هم کېږي، چې انسان دیوڅه په پوهېدلو کوښښ کوي، خو هغه پرې نه پوهېږي او کله ناکله غواړي چې یو څه زیاد کړي، خو هغه تري هیر وي.

کله داسې هم کېږي، چې انسان داسې څه غواړي چې په هغه کې یې هلاکت وي اود داسې شیانو ځغه نفرت لري، چې په هغه کې یې ژوند وي.

که الله جل جلاله وغواړي چې د انسان سترګې، ژبه، پښې، لاسونه او غوږونه واخلي او یا یې لیونی کړي او یا یې په کوځنډ ووهي، نو هغه (انسان) به څه وکړي او څه کولی شي ؟.

***

د مورچل وږمي

غزل

نظام کنهاری

د ژوند له کلي د خوښيو کيږدۍ وکوچېده
خولې نه مي ځکه بې اختياره سلګۍ وکوچېده

د زړه پر کور مي تور څادر غمونو خور کړ هلته
چي د سرور افق نه لاړه سپوږمۍ وکوچېده

بندي مرغه رنګه عبث ګرځم د ژوند قفس کې
نور مې د بخت له سمندره بېړۍ وکوچېده

د خوشحالۍ لمر مي د بل جهان له غره شو پنا
ورسره سمه مي د زړه دنياګۍ وکوچېده

زه هم بادشاه وم چي پر سر مې د همای سيوری وو
لاړه له سره مې سايه د شاهۍ وکوچېده

هغه چي زما د هيلو بڼ يې په دعا اوباوه
نن مي هغه ستره هستي له نړۍ وکوچېده

اوس نو يتيم شومه نظام غم سره لاس او ګرېوان
شول اَبَدي رانه رخصت مُورَکۍ وکوچېده

څه وخت و!!!

سپين کوچي



چې شپه به شوه، يواځې به په لاره چيرته نه تلم
چې ورځ به شوه، د خپل سيوري له ډاره چيرته نه تلم

چې شپه به شوه، د زړه د پرهرو څړيکو به ويښ کړم
چې ورځ به شوه، د چا له انتظاره چيرته نه تلم

د ورځې به مې لمر ته خورول د زړه زخمونه
د شپې به د رڼو ستورو له شماره چيرته نه تلم

سهار به مې اوږې تر جنازو لاندې کړې شوې
ماښام به د چورلکو له بمباره چيرته نه تلم

نور غلی د نړۍ له شوره لرې چيرته ورک وی
څه وخت و ، د مستۍ او شور له ښاره چيرته نه تلم

اوس اخلم هر قدم د زړه په زور لکه رنځور
ماشوم چې وم، په منډه وم، کراره چيرته نه تلم

شړي مې اوس، دا سرې غرمې، د خپل قامت له سيوري
يو وخت به دې له شنه سيوري، چيناره چيرته نه تلم

خواږه، خواږه همزولي رب راکړي وه، څه وخت و!!
يواځې به کوچيه سپينه ياره چيرته نه تلم

دجهاد غږ

مفتون

تـوره پـه لاس پښـه پـه رکـاب کـې غـواړو
تسـل د زړونـو پـه حـراب کـې غـواړو

هغـه مسـت جـام د شـهادت د زمـزم
پـه مسـته تنـده د شـباب کـې غـواړو

مـنزل پـه څوکـو د اغزيـو کـوو
د مـه پـه غيـږه د ګـلاب کـې غـواړو

مـونږه پـه ژونـد کـې انقـلاب نـه غـواړو
مـونږ تـول ژونـدون پـه انقـلاب کـې غـواړو

مـونږه لـه ممبـره داسـې غـږ کـړی دی
جهـان سـر تيټـی پـه محـراب کـې غـواړو

جهـاد، جهـاد او الجهـاد (مفتونـه)
د ژونـدانـه پـه هـر يـو بـاب کـې غـواړو

شاهکاړي

بت شکن

نن چې په سره اورکـې ورتيـړې داوطـن دی زمـا
تـورې لـوخړې تـرې جګيـړې داچمـن دی زمـا

داکـــوه قـــاف دښاپيرو!دادوريښـــمولاره
نـړی پـرې تولـه بلوسـيړې داګلشـن دی زمـا

هاغـه (ناهيد)هاغـه (ملالـه) دتـاريخ شـاهکاړې
هرځای ميوندهريو غړی يې (بت شـکن)دی زمـا

دوخـت چنګيزاوهلاکودوخـت پيرنـګ راغلـی
ولس مورچـل ورتـه نيـولی ولـس ژمـن دی زمـا

دادنګ دنګ غرونه دنګې غـاړې دتـاريخ ميړونـه
غاصب لښکر له ګريبا ن نيسې دادښـمن دی زمـا

سربې ،غرغښت اوبيټ نيکه لاس په دعا دې تاتـه
اميرکروړچې نخښـه کـړی ميـرځمن دی زمـا....

د قرآن کریم روغتیایي اعجاز!!

د ژر سپین ریرتوب دمخنیوي او طړاټ لارې چارې

ژباړه: مولوي محمد امان رسولي

د الله تعالی دکتاب ډېر ښایسته اعجاز چې موږ اوریدلی هغه د ازهر د طبي نباتاتو او دوا استاذ او پخوانی رئیس دکتور طه ابراهیم خلیفه بیان کړی دی، دی وایي: دانسان ماغزه یوه ماده د »میثالویثونیدر»په نامه مواد افرازوي او دا داسې ماده ده چې د انسان او حیوان ماغزه یې په کمه اندازه افرازوي،یوه کبریت لرونکې پروتیني ماده؛ څکه دا په ډېره آسانۍ سره د جسم، اوسپنې، فاسفور سره یوځای کیدای شي، او د انسان د جسم د نشاط او فعالیت لپاره ډېره مهمه ده (کولسترول کموي غذایی تمثیل کوي، زړه پیاوړی کوي او تنفس منظموي .(

د انسان له ماغزو د دغې مادې افراز په تدریجي ډول له ۱۵کلنۍ نه تر ۳۵ کلنۍ پورې زیاتیږي؛ بیا یې تر شپیته کلنۍ پورې افراز کمیږي،نو دا آسانه نه ده چې انسان ته په لاس ورشي او په حیوان کې په ډېره کمه اندازه شتون لري؛ نو ځکه د خلکو توجه نباتاتو ته واوښته او د جاپان یو ډله علماو د دې سحري مادې په اړه پلټنه پیل کړه چې د زر بوډوالي د اعراضو په لیري کولو زیات اغیز لري نو دغه ماده یې له دوو نباتاتو (انځرو او زیتونو) پرته په نورو کې ونه مونده. او الله تعالی رښتیا ویلي دي: (والتین و الزیتون) [التین:۱](قسم دی په تین(انځر) او زیتون باندې)د الله تعالی په قسم کې فکر وکړه چې په تین او زیتون یې یاد کړ او بیا یې دغه قسم د انسان په خلقت پورې تړلی دی چې په احسن تقویم او بیا اسفل سافلین ستایل شوی دی.

تر دې وروسته چې په تین او زیتون کې دغه ماده پیدا شوه دایې وموندله چې دا ماده یواځې له تین او زیتون پرته د انسان صحت ته پوره ګټه نه رسوي، مګر هغه مهال چې له دواړو څخه په ګډه راوکښل شي، بیا د جاپاني علماو یوې ډلې په دې کار کړی چې څو فیصده د کوم نبات اغیز ډېر دی تر څو ښه اغیز ولري نو پایله یې (۱)یو انځر او(۷ (اووه زیتون دي.

دکتور طه ابراهیم خلیفه په قرآن کې پلټنه وکړه؛ نو ورته جوته شوه چې «تین» یو ځل یاد شوی او د «زیتون «شپږ ځلې په صراحت او یو ځل ضمنا راغلی دی الله تعالی فرمایي: (وشجرة تخرج من طور سیناء تنبت بالدهن وصبغ للآکلین)[المؤمنون:۲۰.[

دکتور طه دغه ګرد معلومات چې ده له قرآن کریم نه راغونډ کړي ؤ جاپاني تحقیقي ګروپ ته واستول، وروسته لدې چې دوی کومې پایلې ته رسیدلي و، قرآن کریم څوارلس پیړۍ وراندې دې نتیجې ته رسیدلی ؤ، د دغه ځیرنیز ګروپ مشر د قرآن د داډول اعجاز په اوږدو خپل اسلام اعلان کړ، او د خپل ګروپ دغه کشف او اختراع یې د دکتور طه ابراهیم خلیفه په نامه کړه.

الله اکبر و لله الحمد.

سرچینه: المجتمع مجله

په اروزګان کې د مجاهدینو لخوا نیول شوې قرارګاه

ISLAMIC, JIHADY , EDUCATIONAL
AND CULTURAL MONTHLY JOURNAL

Morchal

هلمندکې د مجاهدینو لخوا غنیمت شوي رینجر